

# د افغانستان
# د ۱۳۹۶ کال د ملي
# بودجې د مسودې
# خپلواکه کتنه

EPD EQUALITY for Peace and Democracy

## د سرچینو، تخصیصونو، او عامه مالي چارو
## د تنـظیـم فعـالیـت ته یـو ځغلنده نظر

دسمبر ۲۰۱۶

# د مطالبو نوملړ


**د مطالبو نوملړ** ........ ٢

**مننه او کورودانی** ........ ٤

**١. سریزه** ........ ٥

١,١ کړندود (شیوه) ........ ٥

**٢. د ١٣٩٦ ملي بودجې ته یوه لنډه کتنه** ........ ٦

*کورني عواید* ........ ٧

*د مرستندویانو مرستې* ........ ٧

٢,٢ د ١٣٩٦ کال لپاره اټکل شوي تخصیصات ........ ٧

*امنیت - حکومتوالي، نظم او قانون او بشري حقوق - زیربناء او طبیعي زیرمې - ښوونه او روزنه – روغتیا - کرنه، او کلیواله پراختیا - ټولنیز تحفظ -*

*د اقتصادي او خصوصي سکټور پرمختیا - احتمالي کودونه او نور* ........ ٨

***عادي بودجه*** ........ ٨

***پرمختیایي بودجه*** ........ ٨

٢,٣ د ١٣٩٥ او ١٣٩٦ کلونو د بودجې پرتله کول ........ ٩

**٣. مالي ثبات (پایښت)** ........ ١١

٣,١ کورني عواید ........ ١٣

٣,٢ عملیات او حفظ او مراقبت ........ ١٥

٣,٣ د بودجې تطبیق ........ ١٦

٣,٤ د مرستندویانو مرستې او اختیاري صلاحیت ........ ١٧

**٤. د عامه مالي چارو تنظیم او اصلاحات** ........ ١٩

٤,١ روڼتیا او حساب ورکول ........ ٢٠

٤,٢ پر پایلو ولاړ د پروګرام د بودجې جوړول، څارنه او ارزونه ........ ٢٣

٤,٣ ولایتي بودجه جوړول ........ ٢٤

٤,٥ د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجه ........ ٢٧

٤,٦ د مدني ټولنې بوختیا ........ ٣٠

**٥. سپارښتنې** ........ ٣١

دولت ........ ٣١

نړیوال مرستندویان ........ ٣٣

د مدني ټولنو سازمانونه ........ ٣٣

# لنډيزونه

| | |
|---|---|
| AFN | افغانۍ (د افغانستان پولي واحد) |
| AREU | د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره |
| ARTF | د افغانستان د بیارغونې مالي صندوق |
| ASYCUDA | د ګمرکي معلوماتو اتومات سیستمونه |
| BC | د بودجې متحدالمال |
| BRT | د انتفاعي معاملاتو مالیه |
| BU | بودجوي واحد |
| CASA | مرکزي آسیا څخه جنوبي اسیا ته د برېښنا د لیږد پروژه |
| DCD | د پراختیايي همکاریو خبري اترې |
| ECF | د پور ورکولو آسانتیاوې |
| EPD | د سولې او ډموکراسۍ د پوشانوالي مؤسسه |
| FY | مالي کال |
| GDP | ناخالص ملي تولید |
| GIRoA | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| GPMES | په دولتي کچه د اجراآتو د څارنې او ارزونې سیستم |
| GRB | د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې جوړول |
| IARCSC | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون |
| IDLG | د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره |
| IMF | نړیواله مالي اداره |
| M&E | څارنه او ارزونه |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| MBAW | د بودجو جوړونه او د مرستو چارې |
| MoEc | د اقتصاد وزارت |
| MoEd | د پوهنې وزارت |
| MoF | د مالیې وزارت |
| MoFA | د بهرنیو چارو وزارت |
| MoHE | د لوړو زده کړو وزارت |
| MoLSAMD | د کار، ټولنیزو، شهداو او معلولینو د چارو وزارت |
| MoPH | د عامې روغتیا وزارت |
| MoPW | د ټولګټو چارو وزارت |
| MoT | د مخابراتو وزارت |
| MoTCA | د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت |
| MRRD | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت |

| | |
|---|---|
| MTBF | د منځمهالې بودجې چوکاټ |
| NAP 1325 | د ۱۳۲۵ کال د عمل ملي پلان |
| NGO | نادولتي سازمانونه |
| NPA | د تدارکاتو ملي اداره |
| NPC | د تدارکاتو ملي کمیسیون |
| NPP | د ملي لومړیتوب پروګرام |
| NSP | د ملي پیوستون پروګرام |
| O&M | حفظ او مراقبت |
| OBS | د بودجې پرانستې سروې |
| ODA | رسمي پرمختیایي مرسته |
| PFEM | د عامه مالي او لګښتونو چارو تنظیم |
| PFM | د عامه مالي چارو تنظیم |
| PFMR | د عامه مالي چارو د تنظیم کړنلاره |
| PMT | د اجراآتو د تنظیم ډله |
| PPU | د تدارکاتو د پالیسۍ اداره |
| SAO | د پلټنې عالي اداره |
| SIGTAS | د مالیاتو د اداري واحد معیاري سیستم |
| SMAF | پر ځان متکي دوه اړخیزه حساب ورکولو چوکاټ |
| SMP | د کارکوونکي د څارنې پروګرام |
| SNGP | د سیمه ایزې حکومتوالۍ پالیسي |
| SWAP | د سکتور په کچه د کړنلارې طرحې |
| TASC | د تخنیکي همکارۍ د مشرتابه کمیټه |
| TMAF | د توکیو د دوه اړخیز حساب ورکولو چوکاټ |
| ToR | د دندو لایحه |
| USD | امریکایي ډالر (اسعار) |

## مننه او کوروداني

د سولې او ډموکراسۍ د پوښانوالي مؤسسه غواړي په لومړي ګام کې د افغانستان د حکومتي چارواکو او د عامه مالي تنظیم د کارپوهانو څخه، د چا د مرستې څخه پرته به داسې یو ارزښت لرونکی راپور نه وای تیار شوی، مننه وکړي. موږ همدارنګه غواړو چې د سولې او ډموکراسۍ د پوښانوالي د مؤسسې د ټول ټیم څخه چې د هغوی د ملاتړ په خاطر چې د پروژې په بهیر کې یې برابر کړی مننه کوي.

# ۱۰ سریزه

## ۱. سریزه

د افغانستان د روڼتیا او حساب ورکولو د ایتلاف پلاتفورم، د سولې او دموکراسی د پوشانوالي مؤسسې (EPD) د دولتي منابعو د ویش او د خدمتونو د وړاندې کولو د ځارنې لپاره د ملي بودجې څخه د ځارنې د یوې وسیلې په توګه د نوموړو سرچینو د ویش او خدماتو د وړاندې کولو لپاره ګټه اخستې ده. د سولې او دموکراسی د یوشانوالي د مؤسسې د ملي بودجې یوه یو کلنه سروې تر سره کړې ده، چې دا چاره په ۱۳۹۱ کې پیل شوه، تر څو د ولسي جرګې غړو لپاره لازیات معلومات برابر کړي چې د ملي بودجې بیا کتنه ترسره کړي. نوموړی بهیر د مدني ټولنو لپاره د ملي بودجې په اړه معلومات برابروي، تر څو هغوی د مدني ټولنې له نظره د ملي بودجې، د هغې تطبیق، ځارنې او راپور ورکولو په اړه نظر و لري او دا په ټول بهیر کې د مدني ټولنې او ټولو وګړو په نقش ځانګړی ټینګار کوي .

د دي یو کلني پروژې له مخې، د ( EPD) موخه داده چې د بودجې په اړه یو ساده او منسجمه کتنه وړاندې کړي چې په پایله کې به خلک کولای شي په بودجه پوه او دا چې هغه د هغوی په ورځینی ژوند کې څه ارزښت لري او د منابعو د تخصیص له لارې د خدمتونو د څرنګوالي بیا کتنه وکړي. د بودجې دا خپلواکه کتنه افغان پارلمان ته د بودجې اړوند معلومات برابروي تر څو هغه مطالعه او ملي بودجه تصویب کړي. دا بهیر پردې سربیره د مدني ټولنې لپاره د ملي بودجې په اړه د نظر ورکولو یو پلاتفورم برابروي.

د بودجې په اړه دا ځغلنده نظر یو بیا کتنه ده چې پارلمان ته د بودجې سره یو ځای استول کیږي تر څو پر وخت د بودجې او د سږ کال د عامه مالي چارو تنظیم، اصلاحاتو، او ټاکلو موخو د پرمختګونو په اړه مطالعه وکړي، خپور کړی دی.

### ۱,۱ کړندود (شیوه)

د ۱۳۹۶ کال د ملي بودجې بیا کتنه د میز پر سر د اصلي بودجې د تطبیق د بهیر چې د عامه مالي چارو د تنظیم اداري (PFM) د اصلاحاتو لپاره په کار وړل کیږي، پیل شوې، کومه چې د پالیسۍ په اسنادو کې طرحه شوې او په اړوند اسنادو یې بحث شوی دی. د اړتیا سره سم، پوښتنلیکونه تیار شوي وو او د جلا موضوعاتو پر بنسټ د مالیې وزارت (MoF) د مرکو هرې ډلې ته لکه د بودجې پالیسۍ او اصلاحاتو ریاست، د خزاینو او مرستو د تنظیم ریاست، د عوایدو، او د بودجې د تطبیق ریاست ته وېشل شوي دي. ټولې مرکې د هغوی په اجازه ثبت، لیکل او په انګلیسي ژباړل او تحلیل شوي دي. د ۱۳۹٦ مالي کال (FY) ټول ارقام د ملي بودجې د مسودې څخه اخستل شوي کومه چې ۲۰۱۵ کال د نومبر په وروستیو کې ولسي جرګې ته لیږل شوې وه. دلته یو (۱) ډالر د ٦۹,۹۹ افغانیو سره تبادله کیده او په همدې بنسټ د ملي بودجې په مسوده کې کارول شوي وه، او په راپور کې یاده شوې سلنه د نږدې ټول شمیر څخه په تقریبي ډول اخستل شوي ده.

## ۲. د ۱۳۹٦ ملي بودجې ته يوه لنډه کتنه

۲. د ۱۳۹٦ملي بودجې ته يوه لنډه کتنه

د ۱۳۹٦ مالي کال لپاره د وړانديز شوې بودجه (٤٦٦,١٤٤) ميلیارده افغانۍ ٦,٦٥٩ میلیارده ډالره)، ده چې په پرتلیزه توګه د ۱۳۹۵ کال د بودجې (٤٤٦,٦٠٦) میلیارده افغانۍ (٦,٦٣٥ میلیارده ډالرو) څخه (٤,٣) سلنه لوړه ده.[1] ملي بودجه د کورنيو عوايدو، مرسته ورکونکو د مرستې او پورونو له لارې تمويليږي. د ۱۳۹٦ کال د کورنيو عوايد اندازه (۱۵۱،۷۳۰) میلیارده افغانۍ (۲,۱٦۸) میلیارده ډالره) اټکل کيږي، چې د ملي بودجې (۳۳) سلنه جوړوي. د ۱۳۹٦ کال لپاره، نړيوالو مرستندويانو (۲۹۲,۳۵٤)

ميلیارده افغانۍ (٤٦,٩٠٩ میلیون ډالره) د پور له لارې تر لاسه کيږي. په هرحال، (۲۲,۰٦۲) میلیارده افغانۍ (۳۱۵,۱۳۹ میلیونه ډالره) د بودجې کسر شتون لري، چې د ملي بودجې (٤,٧) سلنه کيږي، چې يوه برخه يې (۲۸۷.۳۸۷) میلیارده افغانۍ (٤,١٠٦ میلیارده ډالر) دی، چې دا کسر د ۱۳۹۵ کال په بودجې کې څه نا څه (۲,۳) وه. د ۱۳۹٦ کال بودجه، (۱۷۸,۷۵۷)میلیارده افغانۍ (۲,۵۵۳ میلیارده ډالره) يعني د وړانديز شوي ملي بودجې (٦۲) سلنه د عادي بودجې لپاره تخصيص شوې، او (۳۸) سلنه يې د پرمختيايي بودجې لپاره تخصيص شوې ده.

لومړی (۲,۱,۱) شکل: د ۱۳۹٦ کال بودجه په (میلیارد) افغانۍ




شوې سرچيني

ميلیارده افغانۍ (٤,١٧٦ میلیارده ډالره) ژمنه کړې، چې د ۱۳۹٦ د ټولې بودجې (٦٣) سلنه جوړوي. نورې (۳,۲۸۳)

[1] "د ملي بودجې سند:۱۳۹۵ مالي کال "د افغانستان اسلامي جمهوريت، د ماليې وزارت، http://www.budgetmof.gov.af/images/stories/DGB/BPRD/National%20Budget/1395%20Budget/National%20Budget%201395_%20English%20Version%20.pdf.

## کورني عواید

د ۱۳۹٦ کال لپاره د دولتي عوایدو هدف (۱۵۰) میلیارده افغانۍ (۲٫۱٤۲ میلیارده ډالره) دی. د مالیې وزارت (MoF) اټکل کړی دی چې د کورنیو عوایدو (۷۷) سلنه ۱۱٦٫٤۸۹،۹۸۲ میلیارد افغانۍ به د مالیاتو له لارې تر لاسه کیږي.

## د مرستندویانو مرستې

د ۱۳۹٦ کال لپاره، نړیوالو مرستندویانو (۲۹۲٫۳۵٤ ) میلیارده افغانۍ (٤٫۱۷٦ میلیارده ډالره) ژمنه کړې، چې د ۱۳۹٦ کال د ټولې بودجې (٦۳٪) سلنه جوړوي. له دې جملې څخه (۱۳۷٫۳۸۷) میلیارده افغانۍ (۱٫۹٦۲ میلیارده ډالر) د عادي بودجې، او (۱۵٤٫۹٦۷) میلیارده افغانۍ (۲٫۲۱٤ میلیارده ډالره) د پرمختیایي بودجې لپاره ځانګړې شوې ده. د مرستندویانو د پرمختیایي بودجې له ونډې څخه ( ۳٤٫۵۲۳) میلیارده افغانۍ (٤۹۳ میلیونه ډالره) د اختیاري تخصیص شوې بودجې په توګه پام کې نیول شوې دي، (۱۱۷٫۱٦)میلیارده افغانۍ غیرې اختیاري مرسته ده، او (۳٫۲۸٤) میلیارده افغانۍ (٤۷ میلیونه ډالرو) د پور له لارې پوره کیږي. د ۱۳۹۵ کال د ملي بودجې په پرتله د مرسته کونکو د مرستې له نظره (۱٫۷) سلنه چې په ۱۳۹۵ کال کې (۲۹۷٫۲۳۳) میلیارده افغانۍ (٤٫٤۳٦ میلیارده ډالره) لړوالي ښکاره کوي.[۲]

## ۲٫۲ د ۱۳۹٦ کال لپاره اټکل شوې تخصیصات

(۲٫۲٫۱) شکل: د سکتور پر بنسټ د ۱۳۹٦ کال اټکل شوې تخصیصات

| ګڼه | سکتور | په (میلیون) افغانیو | | | مجموعه سلنه | د عادي بودجې سلنه | د پرمختیایي بودجې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | عادي بودجه (OB) | پرمختیايي بودجه (DB) | مجموعه | | | |
| ۱ | امنیت | 164,664,070.00 | 2,637,295.60 | 167,301,365.60 | 36% | 57% | 1% |
| ۲ | حکومتوالي، نظم او قانون او بشري حقوق | 17,530,435.00 | 5,043,913.40 | 22,574,348.40 | 5% | 6% | 3% |
| ۳ | زیربناء او طبیعي زیرمې | 5,282,440.00 | 94,166,455.10 | 99,448,895.10 | 21% | 2% | 53% |
| ۴ | ښوونه او روزنه | 40,816,711.00 | 20,109,105.30 | 60,925,816.30 | 13% | 14% | 11% |
| ۵ | روغتیا | 3,668,056.00 | 15,564,656.80 | 19,232,712.80 | 4% | 1% | 9% |
| ٦ | کرنه، او کلیواله پراختیا | 2,468,804.80 | 25,922,434.70 | 28,391,239.50 | 6% | 1% | 15% |
| ۷ | ټولنیز تحفظ | 24,546,174.00 | 2,330,154.30 | 26,876,328.30 | 6% | 9% | 1% |
| ۸ | د اقتصادي او خصوصي سکتور پرمختیا | 3,323,827.00 | 8,993,269.60 | 12,317,096.60 | 3% | 1% | 5% |
| ۹ | احتمالي کودونه او نور | 25,086,183.30 | 3,990,000.00 | 29,076,183.30 | 6% | 9% | 2% |
| **مجموعه** | | **287,386,701.10** | **178,757,284.90** | **466,143,986.00** | | | |

[۲] باید په یاد ولرو چې د ۱۳۹۶ کال ارقام زیاتره وخت حقیقتا د افغانیو د استهلاک له امله ټیټ دي.

(۲،۲،۲) شکل: د سکټور پر بنسټ د بودجې ویش




امنيت - حکومتوالي، نظم او قانون او بشري حقوق - زیربناء او طبیعي زیرمې - ښوونه او روزنه – روغتیا - کرنه، او کليواله پراختيا - ټولنيز تحفظ - د اقتصادي او خصوصي سکټور پرمختيا - احتمالي کودونه او نور

## عادي بودجه

د ۱۳۹٦ کال وړاندې شوې عادي بودجه يعنې (۲۸۷٫۳۸۷) ميلیارده افغانۍ (٤٫۱۰٦ ميلیارده ډالره) ده، چې د وړاندې شوې ملي بودجې (٦۳) سلنه جوړوي. د مالي نظره، دا په عادي بودجه کې (۱۱٫۳۳) ميلیارده افغانۍ (۱٦۱٫۸۸۰ مليونه ډالر)، چې په ۱۳۹۵ کال کې دا اندازه (۲۷٦٫۰۵۳) ميلیارده افغانۍ وه، لړوالي په ګوته کوي.[۳] دا په عمومي بودجې کې د ۱۳۹۵ کال په پرتله (۱) سلنه لږه ونډه څرګندوي. د بودجوي کوډونو پر بنسټ، د ۱۳۹٦ کال لپاره د عادي بودجې (٦۱) سلنه د مزد او معاش (۲۱ کوډ)، (۲۱) سلنه د اجناسو او خدماتو (۲۲ کوډ)، (۲) سلنه د شتمنيو د استملاک (۲۵ کوډ)، او (۱۷) سلنه احتمالي کوډونو لپاره تخصيص شوې ده.

## پرمختيايي بودجه

د ۱۳۹٦ وړاندی شوې پرمختيايي بودجه ( ۱۷۸،۷۵۷) ميلیارده افغانۍ (۲٫۵۵۳ ميلیارده ډالره) ده، چې د ټولې ملي بودجې (۳۸) سلنه جوړوي. د مالي نظره، دا په پرمختيايي بودجه کې (٤٫۳۱۲) ميلیارده افغانۍ (٦۱٫٦۱۲ ميليونه ډالره) ده چې د ۱۳۹۵ کال د ( ۱۷٤٫۳۷٤) ميلیارده افغانيو څخه (۳) سلنه زياتوالي په ګوته کوي.[٤] دا د ۱۳۹۵ کال د ټولې بودجې يوه معادل ونډه ګڼل کيږي. (۱۲۰٫٤٤۵) ميلیارده افغانۍ (۱٫۷۲۱ ميلیارده ډالره) د غیراختیاري پروژو لپاره دي، او د پرمختيايي بودجې (٦۷) سلنه جوړوي. (۵۸٫۳۱۲) ميلیارده افغانۍ (۸۸۳٫۰۳٤ ميليونه ډالره) د اختياري پروژو لپاره په پام کې نيول شوي دي، چې (۳۳) جوړوي. دې مونږ ته وښودله چې مرستندويان د افغان حکومت لپاره د نورې اختياري او پرمختيايي بوديجې لپاره زيات ملاتړ برابروي.

[۳] "د ملي بودجي سند:۱۳۹۵ مالي کال "د افغانستان اسلامي جمهوريت، د ماليې وزارت،

[٤] هماغه ځای.

## ۲,۳ د ۱۳۹۵ او ۱۳۹٦ کلونو د بودجې پرتله کول

(۲,۳,۱) شکل: د بودجې تخصیص او تطبیق پرتله کول

| سکتور | د ۱۳۹٦ او ۱۳۹۵ تخصیصونه ( ) | | | د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ۱۳۹۵ او ۱۳۹٦ کلونو د عادي او پرمختیایي بودجې تر منځ توپیر | | د۱۳۹۵ او ۱۳۹٦ کلونو تر منځ د مجموعي بودجې توپیر | د عادي بودجې د تطبیق سلنه | | د پرمختیایي بودجې د تطبیق سلنه | | د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کلونو د بودجې د تطبیق د ترمنځ توپیر سلنه | |
| | **عادي بودجه** | **پرمختیایي بودجه** | | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۵ | **۱۳۹۴** | **۱۳۹۵** | **عادي بودجه** | **پرمختیایي بودجه** |
| امنیت | -10,919,165 | 1,063,626 | -9,855,539 | 63% | 71% | 56% | 47% | 8% | -9% |
| زیربناء او طبیعي زیرمې | -681,942 | 9,698,775 | 9,016,833 | 92% | 88% | 38% | 34% | -4% | -4% |
| ښوونه او روزنه | 3,374,273 | -1,035,525 | 2,338,748 | 93% | 91% | 36% | 39% | -2% | 3% |
| کرنه، او کلیواله پراختیا | 385,703 | -1,223,025 | -837,321 | 90% | 87% | 68% | 78% | -3% | 10% |
| روغتیا | 708,523 | -2,711,830 | -2,003,306 | 91% | 90% | 57% | 68% | -1% | 11% |
| ټولنیز تحفظ | 3,244,440 | 547,448 | 3,791,889 | 95% | 94% | 35% | 46% | -1% | 11% |
| حکومتوالي، نظم او قانون او بشري حقوق | 3,280,739 | 2,002,157 | 5,282,896 | 89% | 89% | 40% | 38% | 0% | -2% |
| د اقتصادي او خصوصي سکتور پرمختیا | 333,475 | -4,602 | 328,874 | 89% | 95% | 37% | 50% | 6% | 13% |
| احتمالي کودونه او نور | 11,606,757 | 1,867,400 | 13,474,157 | - | - | - | - | - | - |
| **مجموعه:** | **11,333** | **10,204** | **21,537** | **72%** | **78%** | **46%** | **45%** | 6% | -1% |

(۲،۳،۱) شکل د ۱۳۹۵ تر ۱۳۹٦ د تخصیص ترمنځ توپیر، او د سکتور پر بنسټ د ۱۳۹۴ څخه د ۱۳۹۵ کال د بودجې د تطبیق اندازه (د پرتله کولو په موخه د دسمبر لومړۍ اونۍ څخه د هر کال لپاره) انځوروي. په امنیتي سکتور کې تخصیص کم شوي، او داسې بریښي چې دا سکتور د عادي بودجې د تطبیق له نظره سر کال ښه وه، او د تیر کال د همدې وخت سره پر پرتله یې (۸) سلنه د خپلې عادي بودجې په تطبیق کې ښه والی رامنځته کړی، مګر د پرمختیایي بودجې د تطبیق په برخه کې یې د تیر کال په پرتله (۹) سانه ټیټوالی ښودلې، چې د (٤٧) سلنه لګښت په درلودلو کمزوري ښکاره کوي. د روغتیا او کرنې په برخه کې د تخصیص کموالی هم شتون لري، چې په نورو ټولو سکتورونو کې تخصیص لوړ شوی دی. که څه هم په ټولیزه توګه د عادي بودجې تطبیق د تیر کال په نسبت په عمومي ډول د اجراآتو سره سمون درلود، په امنیتي او اقتصادي برخو کې یوازې کوچنې پرمختګونه شوي دي. د پرمختیایي بودجې د تطبیق له پلوه لږ کمښت موجود و، خو د کرنې، روغتیا، ټولنیز خوندیتوب، او اقتصادي برخو کې د پام وړ ښه والی رامنځته شوی دی.

که څه هم کله چې د مالي کال د پاتې برخې لګښتونه په پام کې و نیول شي په دې ارقامو کې به ښه والی رامنځته شي، د عادي بودجې په برخه کې اوسني اجراآت ښه شوي دي چې دا اندازه اوس مهال یوازې (٦٦) سلنه او په ټولیزه توګه د پرمختیایي بودجې د تطبیق یوازې (٤٥) سلنه جوړوي. تیر کال همدا وخت د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې، د پرمختیایي بودجې (٦٣) سلنه او د عادي بودجې (۹۹) سلنه د دسمبر په لومړۍ اونۍ یعنې تیر کال همدا وخت یعنې د ۱۳۹۵ کال ملي بودجه په پرمختیایي برخه کې (٦٧) سلنه او د عادي بودجې (۱۰۰) په سلو کې تخصیص شوي وه، د تخصیص په پام کې نیولو سره د عادي بودجې په برخه کې سم اجراآت درلودل، خو که د مالي وزرات تخصیص ته پام وکړل شي، نو په سکتوري وزارتونوکې د پرمختیایي بودیجې د لګښت له پلوه لږ ښه والی رامنځته شوی دی.

۳. مالي ثبات (پايبنت)

## ۳. مالي ثبات (پايبنت)

د مالي ثبات مهم شاخص د کورنیو عوایدو له لارې د عادي بودجې د لګښتونو تر پوښښ لاندې راوستل دي. دغه رقم په عمومي توګه په ۱۳۹۳ کال خپل ټیټې کچې یعنې (٤٤) سلنې ته رسیدلی وه – او په ۱۳۹۴ کال کې هم (٤٤) سلنه پاته شو، په ۱۳۹۵ کال یې د بودجې (٤٥) سلنه پوره کړه او په ۱۳۹٦ کال کې یې (٤٨) شوې ده.[٥] د ناخالص کورني عاید نسبت هم په عمومي ډول پر ځای ولاړ وه چې په ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کلونو کې (۱۰)، او په ۱۳۹٦ کال کې (۹،۸) سلنه اټکل شوی دی. د ټولو عوایدو له پلوه د بلاعوضه مرستو په اندازه کې لږ بدلون راغلی، چې په ۱۳۹٤ کال (٦٣) سلنه، په ۱۳۹۵ کال کې (٦۹) سلنه هم شتون لري، او د ۱۳۹٦ کال لپاره (٦٦) سلنه اټکل شوی دی.[٦] په ۲۰۱٤ کال کې، د افغانستان حکومت د لندن په کنفرانس کې یو مهم اصلاحي پروګرام وړاندې کړ، "پر خپل ځان د تکیه کولو درک" وه چې په هغه کې د نورو شیانو تر څنګ دا ژمنه شوې چې د افغانستان لپاره د داسې یو بنسټ اینبودلو اړتیا ده، تر څو د افغانستان عامه مالي چارې ثبات پیدا کړي - په ځانګړې ډول د زیاتو کورنیو عواید لوړول چې په ۲۰۱۴ کال کې د څه د پاسه (۵۰۰) میلیونو امریکایي ډالرو مالي تشه ډکه کړي.[۷] نوموړې چوکاټ پر خپل ځان بسایني په خاطر د متقابلې حساب ورکولو په چوکاټ

[٥] د افغانستان د اسلامي جمهوریت، د بودجې تر مخه سند، (MTBF):-۱۳۹۶ ۱۳۹۹، ۲۰۱۶).

[٦] هماغه ځای.

[۷] "د افغانستان پر خپل ځان بسایني طرحه "د افغانستان اسلامي جمهوریت، سپتمبر، ۲۰۱۵.

(SMAF) تعدیل شو. د پرمختګ په اړه دوهم راپور د ۲۰۱٦ کال د سپټمبر په میاشت کې د بروکسل له کنفرانس څخه د مخه خپور شو. د کاري پرمختګ راپور څرګندوي، چې حکومت د اقتصادي او مالي اصلاحاتو له پلوه پرمختګ کړی.

په ۲۰۱۵ کال د جون په میاشت کې د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) سره د کارکونکي د څارنې پروګرام (SMP) په اړه یو تړون لاسلیک شو، په هغه کې دا خبره هم شامله وه چې د جوړښتیزو اصلاحاتو چې هغه به د ستر اقتصاد تنظیم؛ بانکي سکتور؛ په مالیه کې اصلاحات؛ تعرفه، نغدو پیسو، او د بودجې د تنظیم؛ او په مقرراتو کې د اصلاحاتو له لارې د خصوصي سکتور ودې لپاره یو درې کلن پلان جوړ کړي. د کارکونکي د څارنې پروګرام په ۲۰۱٦ کال د جوړښتیزو معیارونو له نظره خپلو ټاکلو موخو ته ورسید. د عواید د راټولو ټاکلې هدف او د کال د پای نقدي عواید د خزانې په حسابونو کې له خپلې اندازې ډېر بهتر شول، او د انفلاسیون او په دوران کې پیسو اړوند هدف تر سره شو. د جوړښتي معیاراتو له پلوه، د بانکدارۍ نوی قانون تصویب شو، د نوي کابل بانک د خصوصي کولو پروسه پیل شوه، د اضافي تعرفې لپاره اقدامات تصویب شول، او د سونګ موادو د فیس اړوند اقدامات نافذ شول. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او د پیسو نړیوال صندوق (IMF) تر منځ د سترو پورونو د آسانتیاوو یو درې کلنه هوکړه وشوه (ECF) تر څو د مالي چارو د تنظیم، بانکدارۍ، دولتي تصدیو او اقتصادي احصاییو اصلاحات تر پوښښ لاندې ونیسي.[۸]

د مالي ثبات د تامین بله وسیله د منځ مهاله بودجې پلان دی. حکومتي اسناد دا څرګندوي چې د مالیې وزارت د ۱۳۹۱ کال راهیسې یو منځ-مهاله بودجوي چوکاټ (MTBF) چې د عامه مالیې او د لګښت د چارو تنظیم (PFEM) د ۲۰۰۵ کال قانون د غوښتنو سره سمون لري، چې د هغه پر بنسټ یې یو نوی درې کلن (MTBF) رامنځته کړی دی چې د ۱۳۹٦ څخه د ۱۳۹۹ کال پورې تر پوښښ لاندې نیسي. د (MTBF) موخه دا ده چې د بودیجې لومړنې طرحه تیاره کړي، کومه به چې د بودجې موجوده پالیسۍ او نوی مالي کال لپاره د دولت لومړیتوبونه و ارزوي. په اوسني (MTBF) کې د ستر اقتصاد وړاندوینې او تحلیل، مالي وړاندوینه او تحلیل، د عوایدو او لګښتونو انځور، او د سکتوري لګښت تحلیل شامل دی. دا اوسنی اووم (MTBF) دی چې د مالیې وزارت له خوا تیار شوی دی، او دا یوازې په انګلیسي ژبه د بودجې د عمومي ریاست په ویب سایټ کې شتون لري.

دا اوسني (MTBF) یادونه کوي چې په ۱۳۹۳ کال کې د افغانستان د اقتصاد د ټیټو اجراآتو څخه ورو بیرته عادي حالت ته راتلو وروسته کوم چې په ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کې تر سره شو، په دې وروستیو کې مالي اجراآت ډېر هیله من کونکي دي. دا یادونه ټیټ تورم ته اشاره کوي خو د تبادلې په نرخ یو استهلاک ته ګوته نیسي. دا (MTBF) د یادولو وړ وړاندوینه کوي چې د اقتصاد عمومي وضعیت به مثبت وي، خو د تاریخي پرتلې له نظره به په منځنۍ موده کې د یوه ورو چټکتیا لرونکي وي، او داسې وړاندوینه کوي چې ناخالص کورني تولید (GDP) لړه وده به د ۱۳۹۵ کال څخه اټکلا د (۳,۷) سلنې څخه په ۱۳۹۷ کال پورې تر (٤,۱) پورې، په کرهنې، خدمتونو، او د صنایعو د سکتورونو په برخه کې رامنځته شوې ودې له مخې زیاته شي. دا په منځمهاله کې د ورو ودې نسبت یعنې د (٤-٥) سلنه څرګندوي او افغانستان د مرستو کونکو په مرسته ولاړ اقتصاد څخه یو نسبتا د یو پر ځان بسیا اقتصاد یو ورو ودې خوځښت ته سوق کوي.[۹] په ۱۳۹٤ کال کې رښتینې اقتصادي وده (۰,۹) سلنه وه، سره له دې چې د تریاکو د سکتور پرته د منفي ودې لورې ته روان وو، یعنې دا چې د

[۸] "د متقابل حساب ورکولو د چوکاټ له لارې پر خپل ځان بساینه (SMAF)): د کاري پرمختګ راپور، ":(سپټمبر، ۲۰۱٦..

[۹] "له بوجې تر مخه سند: ۱۳۹۹-۱۳۹٦ ا "د افغانستان اسلامي جمهوریت، د مالیې وزرات، ۲۰۱٦..

کرنې په برخه کې د غلو دانو تولید له نظره شاوخوا (۱٤) سله منفي وده رامنځته شوې ده. په چوکاټ کې دا هم وړاندوینه شوې چې په روان کال کې لږه واوره او باران به په منفي توګه د کرنیزو محصولاتو پر حاصل اغیز وکړي. نورې وسیلې چې مالي ثبات (پایښت) باید ډاډمن کړي لکه د حفظ او مرقبت (O & M) د مالي لګښت د تمویل په برخه کې مالي ثبات په خاطر د پوره اجراآتو څخه عبارت دی، د ملي بودجې په برخه کې د بسپنه ورکوونکو په مرستو او اختیاري صلاحیت به هم خبرې و شي.

## ۳،۱ کورني عواید

د ۱۳۹۱ او ۱۳۹۲ کال، د رکود او زوال وروسته، د افغانستان ټول بودجوي عواید په ۲۰۱۳ کال کې څه نا څه (۲۲) سلنه زیاتوالی ومومند. [1] ٠ په ۲۰۱۵ کې تر سره شوي اقدامات، چې په هغو کې پر انتفاعي معاملاتو د مالیې دوه ځلې ته لوړول یعنې د (۲) څخه (٤) ته لوړول هم شامل دي، لکه په وارداتي تیلو او ګازو د مالي په وضع کولو کې زیاتوالي، د ګرځنده تیلفون په کارونکو د (۱۰) سلنې مالي وضع کول، او د فغانستان په هوایي میدانو کې د سوداګریزو شرکتونو د طیارو د کښیناستلو، او د افغانستان د هوایي حدودو څخه په تیریدونکو طیارو د فیس زیاتوالی د (۵،۱) میلیارده افغانۍ عواید د اټکل له مخې مثبت اغیز لري. په ۲۰۱۵ کال کې د ټولو عوایدو په اندازه کې د نیمایي څخه زیاتوالي دا په ګوته کوي چې د پیاوړي عوایدو د یو اغیزمن څواکمن خوځښت کوښښونو او ٤ د نورو مالیاتو راټولولو، او همدارنګه د پخوانیو پورونو راټولولو ته نسبت ورکول کیږي. [1] ١

په ۱۳۹٤ کال کې، حقیقي را ټول شوي عواید (۱۲۲،۰۲۷) میلیارده افغانیو ته رسیږي، چې یوازې لږه اندازه د مالي کال لپاره د ټاکلي هدف څخه لږ دي. په ۱۳۹۵ کال کې، تمه کیدله چې ټول عواید به لږ تر لږه (۱۲۷) میلیارده افغانۍ زیات شي، دا په دې پورې اړه لري چې تر کومې کچې نوي تدابیر پلي شوي دي. د ۱۳۹۵ کال له بودجې له مخې، د راټولولو شوو عوایدو اندازه (۱۳۱،۵۷۵) میلیارده افغانیو ته رسیږي، په دې کې پر اجناسو او خدماتو د لګیدلو مالیو عاید، ګټه، او د پانګې ګټه (۳۷،۵۱۰ میلیارده افغانۍ)، نړیوالې سوداګرۍ او معاملو (۲۹،۹۸۹ میلیارده افغانۍ)، پر کورنۍ اجناسو او خدماتو د لګیدلو مالیاتو عواید (۲٤،٦۳٤ میلیارده افغانۍ)، چې له دې وروسته نور مالیات (۵،۹۰۸ میلیارده افغانۍ) او پر ملکیتونو (۵۸۹،٤۳ میلیونه افغانیو) مالیات د یادونې وړ دي. غیر مالیاتي عواید (۳۳،۱۲۷) میلیارده افغانیو ته رسیږي. [1] د ۲۰۱۵ پیاوړي اجراآتو په ۲۰۱٦ کال کې دوام درلود، او هغه دا چې د کورنیو عوایدو له درکه د ۲۰۱٦ کال په لومړیو ۸ میاشتو کې د تیر کال د ورته وخت د اندازې په پرتله (۳۰) سلنه لوړه اندازه راټول شوي دي [1]

د ۱۳۹۵ کال عواید د ناخالص کورني تولید (۹) سلنه جوړوي، چې په هغو کې دا وړاندوینه په پام کې ده چې دا اندازه به په تدریجي ډول د (۸،۵) څخه (۸،۲) سلنې ته را کمه شي، او دا به د ناخالص کورني تولید، چې په تیرو درې کلونو کې د عوایدو د ډیروالي او د عادي ناخالص کورني تولید د لوړې اندازې ودې په برخه کې د ستونزو ډیروالي ته نسبت ورکول کیږي. [1] داسې په پام کې ده چې ناخالص کورني عواید به (۲۰۲۱) کال کې (۱۲،۳) سلنې ته زیاتوالي ومومي، خو دا چاره د روانو او نویو اداري او غیرې مالیاتي اقداماتو او همدارنګه د مرکزي آسیا څخه جنوبي اسیا ته د برېښنا د لیږدولو د پروژې (CASA) د

[10] "ویلیام ای بیرډ او ایم خالد پاینده" په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان د بودجې بیرته راګرځول، د امریکا د سولې د انستیتیوت خبرپاڼه، ۲۰۱، فبروري، ۲۰۱٦، http://www.usip.org/sites/default/files/PB201-Afghanistans_Revenue_Turnaround_In_2015.pdf.

[11] هماغه ځای

[12] "د بودجې تر مخه سند (بودجی):۱۳۹۹-۱۳۹٦،" د افغانستان د اسلامي جمهوریت، د مالیې وزارت، ۲۰۱٦ .

[13] " افغانستان: عمومي کتنه،" نړیوال بانک، http://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/overview.

[14] هماغه ځای.

ترانزيت دٔ فيس د اخستلو له لارې لوړ شي.[۱] که څه هم د ۱۳۹٦ کال د عوايدو په اړه وړاندوينه کيږي چې دا به په پراخه کچه په ټولو برخو کې د پيش بينې شوي زياتوالي سره تړاو ولري، چې په هغو کې ماليات پر عايداتو، گټه، او د پانگې لاسته راوړنې له درکه (٤١,٢٩٨) ميلیارده افغانۍ شاملې دي، چې له هغو وروسته پر نړيوالې سوداگرۍ او معاملاتو د ماليات (٢٩,٥٨٩ ميلیارده افغانۍ) او کورنيو اجناسو او خدماتو ماليات (٢٧,٢٤١ ميلیارده افغانۍ)، او همدارنگه نور ماليات (٦,٤٩٣ ميلیارده افغانۍ)، او پر ملکيتونو ماليات (٦٤٧,٨١ ميليونه افغانۍ)، او غير مالياتي عوايد (٣٤,١٣٩ ميلیارده افغانۍ شامل دي.

د ماليې وزارت ته پر خپل ځان د بسياتوب په موخه د اجراآتو د ښه والي لپاره د عامه مالي چارو د تنظيم په يوه پنځه کلنه دوره کې د اصلاحاتو د يو پروگرام د ترسره کيدو دنده سپارل شوې ده. دغه پنځه کلن پلان چې د ماليې وزارت او نورو تخنيکي ادارو، د تدارکاتو د ملي اداري او د افغانستان د استخراجي صنايعو د روڼتيا د نوښت (AEITI) د دارالانشاء په گډون هرې ډلې ته د اجراآتو د تنظيم سيستم په چوکاټ کې د عامه مالي چارو د تنظيم د دوهمې طرحې (PFM II)، د پلې کولو تفصيلات برابروي. څو ډوله اصلاحات لا د مخه روان دي، چې په هغو کې د ماليو او گمرکونو ادارو څخه غواړي چې تطبيق کې ښه والي رامنځته کړي، او کسر کم کړي. د دې اصلاحاتو د يوې برخې په توگه، د عوايدو او گمرکاتو په رياستونو کې څلوېښت فاسد يا بې کفايته لوړ پوړي کارکوونکي له دندو گوښه شوي دي، او د بشري منابعو د اصلاحاتو پاليسي تصويب شوې ده.

د گمرکي معلوماتو اتومات سيستمونه يعنې (ASYCUDA) سيستم نوي او اصلاح شو، او د مالياتو د تنظيم معياری واحد (جامع) سيستم (SIGTAS) په پنځو ولايتونو (کابل، کندهار، هرات، بلخ او ننگرهار) کې په کار واچول شو. دغه سيستم د داخلي عوايدو د څارنې او ساتنې لپاره کارول کيږي. د لويو او منځنيو ماليه ورکونکو ادارو کارکونکي ته واک ورکول شو چې د خطر پر بنسټ د مطابقت ورکولو پلټنه د ماليې په ټولو دفترونو او کابل کې عملي کړي. د عوايدو د رياست يو چارواکي څرگنده کړه چې دغه نظام کې ښه والي رامنځته شوي دي. هغه اضافي اقدامات چې د عوايدو د رياست له خوا د خطر پر بنسټ د پلټنې لپاره د غوراوي او په کابل کې د يو داسې پلان د درلودلو له مخې په ولايتونو کې د مراجعينو د خدمتونو مرکز ورته سيستم جوړ کړي. پر دې سربيره دې چارواکي څرگنده کړه چې دوی اوس مهال د پيسو د تاديې په يو برېښنايي ميکانيزم کار کوي، او هغه دا ومنله چې اوس مهال د ماليه ورکوونکيو څخه د غير قانوني پيسو غوښتنه کيږي او يا د عوايدو د چارواکو له لورې ډارول شوي دي. دې چارواکي دا څرگنده کړه چې د پستي لارې د تادياتو سيستم به د عوايدو د چارواکو لپاره د پيسو په مستقيمه توگه د ماليې غوښتلو خطر کم، او ماليه ورکونکي به د دې جوگه کړي چې د خپل کمپيوټر يا گرځنده[٦]ټلفونونو له لارې ماليه ورکړي.[۱] نوموړي چارواکي په جوړښت کې د راټولولو يوه بله موضوع روښانه کړه چې د عوايدو رياستونو او ولايتي مستوفيتونو په جوړښت کې به، چيرې چې مستوفيتونه په ولايتونو کې د عوايدو د راټولولو دنده په غاړه لري، خو راپور په مستقيمه توگه د اداري د عوايدو د رياست پر ځای مستقيما اداري رياست ته ورکوي.[۱]

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د وينا له مخې، يو بل هيله بخښونکی عايد د کانونو د عوايدو له لارې لاسته راځي، چې هغوی تمه لري چې د ۲۰۲۰ کال پورې به له دې درکۀ (٦٥٠) ميليونه ډالره عوايد[۱] او يا په

¹⁵ د نړيوال وجهي صندوق، د پورونو د پراخه کولو لپاره د هيواد د درې کلنو ترتيباتو راپور " د دريو کلونو لپاره ترتيب د کريډيټ د آسانتياوو غوښتنه–د مطبوعاتي اعلاميې له مخې، ". ۱۶/۲۵۲، جولای، ۲۰۱۶ کال، https://www.imf.org/external/pubs/ft/scr/2016/cr16252.pdf.

¹⁶ د (EPD) له لورې د عوايدو د رياست چارواکي سره مرکه، د دسمبر لومړی، ۲۰۱۶.

¹⁷ هماغه ځای.

¹⁸ "د خپل ځان بسياينې پر لور: د انتقال لسيزې لپاره ستراتيژيک لر ليد "د افغانستان اسلامي جمهوريت، ۲۰۱۶.

۲۰۲۲/۲۰۲۱ کلونو پورې د (۲) څخه تر (۳) ناخالص کورني تولید لوړ کړي.[١] د مالیې وزارت دا هیله لري چې په اوږده موده کې به د افغانستان د کانونو او د استخراجي صنعت عواید د ملي بودجې د مرسته کیدونکو پیسو د برخې ځای ونیسي.[٢] که څه هم، چې د ۲۰۱۵ کال په وروستیو کې، د (۱۰،۰۰۰) زیرمې د جګړې او تاوتریخوالي او د ناقانونه استخراج له امله د پام وړ کچه د حکومت کنټرول څخه بهر پاتې دي. یو بې ثباته قانوني چوکاټ شتون لري چې چټکه پراختیا او پیاوړي داخلي فشار له امله باید عایدات تر لاسه شي.[٢] د ۲۰۱۵ کال څیړنې موندلې چې پردې برسیره، شرکتونو هڅه کړې چې د استخراج هغه طریقو څخه چې تمه کیږي او ښایي د افغانستان لپاره د اوږد مهاله عایداتو لپاره په بالقوه متبادل بدل شي او په ټولیزه توګه د افغانستان د پرمختیایي ګټو لپاره د هغو زېرمو له لارې چې هغوی ته قرارداد ورکول شوي کار واخلي.[٢] د عوایدو د له لاسه ورکولو ترځنګ، نورو څیړنو دا هم ښودلې چې د منرالونو ناقانونه استخراج د مخالفو وسله والو ډلو لکه طالبان، چې په افغانستان کې د حکومت ثبات ګواښي، د پام وړ منابعو لاسته راوړلو یوه وسیله ده.[٢] په داسې حال کې د کانونو په اړه داسې اټکل کیږي چې د طالبانو لپاره د عوایدو دوهمه لویه سرچینه وي، دې سرچینې په ۲۰۱۳ کال کې د دولت د عوایدو سره د (۱/۴) سلنې څخه لږه مرسته کړې ده.[٢]

## ۳،۲ عملیات او حفظ او مراقبت

په تیره لسیزه کې، د عامه شتمنیو یوه زیاته برخه یا نوې جوړې شوې یا بیارغول شوې ده، خو د اوږد مهال لپاره د هغوی حفظ او مراقبت د لګښتونو ټاکلو ته ډېره لږه بودجه په پام کې نیول شوې ده. نیمه جوړښتیزه کړنلارو او د شتمنیو د سپارلو د کمزورې پلان جوړونې له امله کړې د ملي بودجې، په اوږده موده کې د حفظ او مراقبت لپاره ناکافي منابع او د پلان جوړونې اړوند د وزارتونو په چوکاټ کې د معیاري میکانیزم نشتون او د حفظ او مراقبت د لګښتونو په اړه د عادي بودجې لپاره د لګښتونو د بودجې امکانات محدود کړي دي. دې ته په پام، د مالیې وزارت په ۱۳۹۲ کال کې د پیښیدونکي حفظ او مراقبت د خنډونو د لرې کولو یوه هڅه کړې چې د پوهنې او عامې روغتیا وزارت په وزارت کې اصلاحات پیل کړي دي. د ۱۳۹۵ کال پورې، دغه بهیر ۱۹ وزارتونو ته غزیدلی دی، کومه کې چې د حفظ او مراقبت اړوند پالیسۍ او مقررات، او د شخصي موټرانو او ملکیتونو اړوند طرزالعملونو بشپړوي، د تطبیقي ادارو سره همکارۍ کوي تر څو د عامه ملکیتونو لپاره د حفظ او مراقبت د ټولو لازمو اسنادو اړوند سوداګریز پلان، او د عامه شتمنیو پرله پسې ثبتول او د تطبیقي اصلاحاتو څارنه په مرکزي او ولایتي ادارو کې ترسره او بشپړ کړي.[٢] د بودجې د پالیسۍ او اصلاحاتو ریاست یو چارواکي وویل چې د بودجې د پالیسۍ او کړنلارې د پلي کولو بهیر په مالیې وزارت او نورو اړوندو وزارتونو مثبته اغیزه کړې ده، او دوی پلانونه لري چې په راتلونکي کال کې نورو وزارتونو کې دې کار ته دوام ور کړي.[٢]

[19] نړیوال بانک، افغانستان د لیږد پړاو ته یوه کتنه: د ۲۰۱۴ کال وروسته هم. ۲۰۱۴ کال

[20] د بودجې تر مخه سند (بودجی):۱۳۹۹-۱۳۹۶،" د افغانستان د اسلامي جمهوریت، د مالیې وزارت، ۲۰۱۶ .

[21] جاوید نوري او لید دا بروکر،" د استخراجي سکتور د ادارې لپاره د دولت یو متوازن قانون،"د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، مې، ۲۰۱۶ http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/1610E%20A%20Balancing%20Act%20for%20Extractive%20Sector%20Governance.pdf.

[22] جاوید نوري" د افغانستان را برسیره کیدونکې کانونو خپل سري واکداران، "د سولې لپاره د امریکا انستیټوټ، د جنوري ۲۰۱۵.

[23] کوثر غوري او اسدالله زمری، "د پالیسۍ لنډیز: په افغانستان کې په استخراجي برخه کې تلپاتې پراختیا،" افغانستان د بشپړتیا څار، ۲۰۱۵، https://iwaweb.org/wp-content/uploads/2015/09/Policy-Brief-Extractives-for-sustainable-development-in-Afghanistan.pdf.

[24] "په جګړه کې د خلکو خزانه، "نړیواله څارنه ، مې، ۲۰۱۶. https://www.globalwitness.org/en/campaigns/afghanistan/war-treasury-people-afghanistan-lapis-lazuli-and-battle-mineral-wealth/.

[25] "د ملي بودجې سند: د ۱۳۹۵ مالي کال، "د افغانستان اسلامي جمهوریت، د مالیې وزارت.

[26] د بودجې د پالیسۍ او اصلاح ریاست چارواکي سره مرکه، مرکه کونکي (EPD) له خوا شانوالي، ۲۲ نومبر، ۲۰۱۶ .

که څه هم، چې حفظ او مراقبت یوه مهمه ننګونه ده، په منځ مهاله او اوږد مهاله موده کې د حفظ او مراقبت د لګښتونو په اړه د حکومت د توان سره تړلې څو پوښتنې راپورته شوې دي. د نړیوال بانک په راپور کې راغلي چې د حفظ او مراقبت د لګښتونو لپاره په افغانستان کې ډیره بودجه په پام کې نه نیول کیږي. دا راپور تشریح کوي چې په ۲۰۱۱ کال کې د ملکي شتمنیو ساتلو لګښت په پنځو اصلي سکټورونو کې (۷۱۰) میلیونه ډالره اټکل شوی، او داسې په پام کې وه چې دا اندازه په ۲۰۱۴ کال کې (۱,۱) میلیارده ډالرو ته لوړه شي. خو په ۲۰۱۱ کال کې د حفظ او مراقبت لپاره ځانګړې شوې بودجه په سکټورونو کې یوازې (۱۳۲) میلیونه امریکایي ډالره وه، او په ۲۰۱۱ کال کې د حفظ او مراقبت لپاره ټول ملکي عادي لګښتونه په حقیقت کې تش په نامه یعنې شاوخوا (۳۸۰) میلیونه ډالره او په ۲۰۱۴ کال کې (۲۸۵) میلیونه ډالره وو.[27] د سیګار د راپور له مخې، افغانستان اوس کافي مالي امکانات او تخنیکي وړتیا نه لري چې (۷۶,۴۰۰) میله سړک ترمیم کړي، چې له هغې جملې څخه (۲۸،۰۰۰) سړک بیا رغول او یا اصلاح شوې دی.

داسې اټکل شوی دی چې افغانستان به د حفظ او مراقبت لپاره هر کال (۱۷) میلیونه ډالرو لګښت ته اړتیا ولري، چې دا اټکل د (۱۰۰) میلیونه ډالرو یوکلني کمښت په ګوته کوي. په راپور کې د حفظ او مراقبت او (NEPS-SSEPS) د انرژۍ د پروژې لپاره د افغانستان بریښنا شرکت د وړتیا او منابعو په اړه داسې پوښتنې را برسیره کوي چې د دې کاروڅو د پیسو ورکولو توان نه لري.[28] د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (ARTF) د راپور له مخې چې د ۲۰۱۵ کال د نومبر څخه د ۲۰۱٦ کال د جنورۍ موده تر پوښښ لاندې نیسي، دا په ګوته کړې چې د (۷۸) ښوونځیو

څخه لیدنه وشوه، چې له دې جملې څخه یوه هم د بشپړیدو وروسته د حفظ او مراقبت لپاره هیڅ پلانونه او یا بودجه نه درلوده.[29] په همدې ډول، داسې (٤١) فرعي پروژې چې د ملي پیوستون د پروګرام (NSP) له لارې تمویلیږي، په لومړۍ ربعه کې څارل شوې، یوازې (۲٤) یې د حفظ او مراقبت لپاره پلانونه درلودل .

### ۳,۳ د بودجې تطبیق

د هغو ژمنو پر بنسټ، چې په ۲۰۱۲ کال کې په توکیو متقابل حساب ورکولو چوکاټ (TMAF) تر سره شوې دي، د بودجې د تطبیق کچه به په ۲۰۱۵ کال کې (۷۰) سلنه وي. د بودجې د تطبیق راپور د ۲۰۱٦ کال په دسمبر کې دا ښیي چې د عادي بودجې نومړې هدف د (۷۰) سلنې څخه اوړي، که څه هم د پرمختیایي بودجې لګښت (٤٥) سلنه اندازه، چې د ۲۰۱۵ کال د هدف له پلوه په اوسط ډول (۹٪—٦١٪) کم پاتې دی. دا هم د یادونې وړ ده، چې د بودجې تخصیص د پام وړ کچه د هغه د تطبیق د کچې څخه په ترتیب سره د (۱۰۰) له جملې څخه (٦۷) سلنه څخه لوړ دی.[30] د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام (UNDP) د بودجې جوړونې او مرستو د کار رسولو پروګرام (MBAW) له مخې، د بودجې د اغیزمن تخصیص په برخه کې د کابل او ولایاتونو تر منځ یو واټن شتون لري. په مرکز کې، د پرمختیایي بودجې د تطبیقي اندازه په کلني توګه د (۷۰) سلنې څخه کمه شوې ده، چې دا په واقعي توګه د بودجې د جوړولو، د تیرو کلونو څخه په پراخه پاتې شوې بودجه (carryovers)، د هیواد په مختلفو برخو کې د مخ په زیاتیدو خرابیدونکي امنیتي حالت او پر وخت د پروژو د

[27] "افغانستان: د هیواد منظمه پیژندنه، "د نړیوال بانک ډله، د فبروري ۱، ۲۰٦، http://documents.worldbank.org/curated/en/302911468190767498/pdf/103421-SCD-P152891-SecM2016-0055-IDA-SecM2016-0041-IFC-SecM2016-0029-MIGA-SecM2016-0028-OUO-9.pdf.

[28] "د متحده ایالاتو کانګرس ته راپور، "د افغانستان د بیارغونې (سیګار) ځانګړي عمومي پلټونکي، ۳۰ د اپریل ۲۰۱٦، https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2016-04-30qr-section3-economic.pdf.

[29] هماغه ځای.

[30] "د تطبیق راپور ۲۰۱٦/۱۲/۰۳ "، د افغانستان د اسلامي جمهوریت، د بودجې عمومي ریاست، د مالیې وزارت
http://www.budgetmof.gov.af/index.php/en/85-news/291-budget-execution-rate1.

تطبیق لپاره د دولت محدودې وړتیا له امله رامنځته شوی دی.[٣]

د مالیې وزارت د بودجې د تطبیق د ریاست یو چارواکي څرګنده کړه چې دوی دا مهال د لسو اړوندو وزارتونو سره د بیا کتنې غونډې جوړوي، چې د هغو غونډو پر بنسټ به د پالیسۍ طرحه چمتو او د وزیرانو شورا ته به یې د تصویب لپاره وړاندې کړي. دا راپور به د مالیې وزارت سره د مهمې بودجې د تطبیقي موضوعاتو او همدارنګه د اړوندو وزارتونو سره، چې په هغه کې یې د بهرنیو او قراردادي موضوعګانو په ګډون، موضوعات په ګوته او سپارښتنې به وړاندې کړي. دغه چارواکي څرګنده کړه چې دوی هڅه کوي چې د تخصیصاتو بهیر چټک کړي، او د نورو لارو چارو په لټه کې دي چې د هغو په وسیله به د بودجې د تطبیق بهیر پروسه ساده کړي. نوموړی ریاست د مالي پلان جوړولو میکانیزمونو سپارښتنه هم کوي، تر څو اړوند وزارتونه وکولی شي خپل لګښتونه او د تدارکاتو پلانونه، په ښه توګه پلان کړي. که څه هم، دې چارواکي زیاته کړې ده چې دغه پلان د حکومت د ټو کلونو په پلان کې شامل شوي دي، خو لا نورې هڅې رواني دي.[٣] ٢

په ۲۰۱۶ کال نومبر کې، د افغانستان د ولسي جرګې د استیضاح نوی څپه پیل کړې او اووه تنو وزیرانو څخه یې د باور رایه بېرته اخستې. په رسمي توګه، ولسي جرګې هغه وزیرانه جرګې ته راو بلل چې نه دی توانیدلی د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره د خپلو وزارتونو د پرمختیایي بودجې په سلو کې (۷۰) څخه زیاته ولګوي. هغه وزیران چې د باور رایه یې له لاسه ورکړه په هغو کې د بهرنیو چارو وزارت، د ټولګټو وزارت، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو د چارو وزارت، د پوهنې وزارت، د ترانسپورټ او ملکي هوایي چلند وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، او د مخابراتو وزارت شامل دي. په ټولیزه توګه د ولسي جرګې د پنځو غونډو په ترځ کې د ۱٦ وزیرانو د بودجې لګښتونه څېړل شوي دي، چې له هغې جملې څخه پاتې نهو وزیرانو د باور رایه تر لاسه کړه. که څه هم په رسمي توګه د بودجې د تطبیق د اجراآتو اندازه کولو په موخه دا څرګندیږي چې دا خبره ډېره ټینګه نیول شوې ده، شنونکي وړاندیز کوي چې د ولسي جرګې غړو د استیضاح د غونډو په ترځ کې د وزیرانو د کړنو په اړه یوه منظمه ارزونه تر سره نه کړه، او دا چې د استیضاح تحریکونه د ملي یووالي حکومت سره د واک د سیالۍ د مبارزې نوی پړاو استازیتوب کوي.[٣] ٣ د دې راپور پر مهال، دا موضوع ستري محکمې ته راجع شوې ده، تر څو د اساسي قانون د (۹۲) مادې د تفسیر په رڼا کې د پارلمان له لورې د ګوښه شوو وزیرانو موضوع وڅیړي، خو ستري محکمې لا تر اوسه د ګوښه شوو وزیرانو په اړه کومه فیصله نه ده کړې او وزیران د سرپرستو وزیرانؤ په توګه خپلو کارونو ته دوام ورکوي.[٣]

## ٣٫٤ د مرستندویانو مرستې او اختیاري صلاحیت

له ۲۰۰٦ کال راهیسې هر کال د پراختیایي همکاریو پیاوړې کولو (دارالانشاء) لپاره له ۲۰۰٦ کال غونډې ترسره شوې دي، ترڅو هر یو مرستندوی د تیر کال لاسته راوړنو بیاکتنه وکړي او راتلونکو مرستو لپاره د کاري ساحو د ټاکلو په اړه خبرې اترې وکړي. په (SMAF) کې د ګډې پروژې یو شاخص کاري پرمختګ دی چې باید تر سره شي تر څو د ملي بودجې په چوکاټ کې پروګرامونو پرمختګ او لاسته راوړنې د ۲۰۱٦ کال په لومړۍ نیمایي کې بیا کتنه ترسره کړي. د مالیې وزارت د وزارتونو پوري اړوند د پراختیایي همکاریو پیاوړې کولو ١٦ غونډې تر سره کړې، چې په هغو کې تعقیبي اقدامات په ګوته شوی دي.[٣] بل شاخص دا

---

[٣١] د "بودجې جوړول او د مرستو د کار تنظیم، UNDP"۲۰۱٦، ,
http://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/operations/projects/democratic_governance/mbaw.html.

[٣٢] د بودجې د عمومي رییس سره د (EPD) مرکه، ۲۰ نومبرو ۲۰۱٦.

[٣٣] توماس روټیګ، د «پارلمان له جملې څخه د وزیرانو یو ځل بیا شړل: د مبارزو یو څو اړخیزه واک ،" د افغانستان د شنونکو شبکه، ١٩ نومبر، ۲۰۱٦ کال ،
https://www.afghanistan-analysts.org/parliament-kicks-out-ministers-again-a-multi-dimensional-power-struggle/.

[٣٤] "د ولسي جرګې غړو وزیران ګوښه کړل، "طلوع نیوز،
http://www.tolonews.com/en/afghanistan/28824-parliament-orders-dismissed-ministers-to-stop-working.

[٣٥] "په ځان د تبساینې د دوه اړخیزه حساب ورکولو چوکاټ (SMAF) د پرمختګ راپور، "د افغانستان د اسلامي جمهوریت، سپتمبر ، ۲۰۱٦ کال

وه چې مرستندویان او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت به د ۲۰۱٦ کال په نیمایي کې د سکټورونو په کچه د طرحو د عملي کولو یو کاري ډله رامنځته کوي، تر څو دا کاري ډله د هر سکټور لپاره یو بشپړه طرحه تیاره کړي تر څو د سکتور په کچه د پراخه اقدام طرحي را[۸]منځته کړي، او د بسپنه ورکوونکو له خوا د ځان ارزوني راپور په ګوته کوي چې د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه زیاتره (۲۲) خپلې موخې تر لاسه کړي دي. خو د پر ځان متکي دوه اړخیزه حساب ورکولو چوکاټ (SMAF) د کاري پرمختګ راپور یادونه کوي چې مطابقت زیاتره په ډله ییزه کچه صورت نیولی دی، او ډیری مرستندویان د ملي لومړیتوبونو پروګرامونو بشپړتیا ته انتظار باسي تر څو خپله مرسته د بوجې څخه بهر کارونو لپاره تیاره کړي.[۳] ٦

سربیره پر دې، د مالیې وزارت په ۲۰۱۵ کال کې د مرستو د تنظیم یو درې میاشتنی د نومرو ورکولو پرتلیز کارت خپور کړی دی چې د دې کار په خاطر یې ځلور مهم معیارونه په پام کې نیولي دي: (۱) هغه ټوله عمومي مرسته چې د افغنستان سره یې ژمنه شوې ده، په ملي بودجې کې د شمولیت او نه شمولیت له پلوه سره جلا شوي دي؛ (۲) هغه مرسته چې د ملي بودجې څخه بهر ورکول کیږي، د افغانستان دولت ته یې راپور ورکول کیږي، او د ولایتونو له پلوه سره جلا کیږي؛ (۳) د بودجې څخه بهر ورکول شوي مرستې چې په آنلاین توګه یې د پرمختیایي مرستو د ډیټابیس له لارې راپور ورکول کیږي؛ او (۴) د ۲۰۱۵ کال لپاره د ځرنګوالي له نظره د دواړو ډوله اقداماتو د رسمي پرمختیایي مرستو (ODA) د معلوماتو دوران چې د دولت یې د بهیرونو د کیفیت ارزونې لپاره د مرستو معلومات غوښتنه کوي، او د هغه ځواب کیفیت چې د پرمختیایي ملګرو څخه ترلاسه شوی دی.[۳] په هر حال، د مرستو د ۷
تنظیم د ریاست یو چاړواکي ځرګنده کړې چې دوی تیر کال د محدودې وړتیا او د راپور د سیستم د نه شتون له امله د نومرو ورکولو د کارت څخه کار اخستل درولي دي، او په بدل کې یې خپله ویب پاڼه او فیس بوک پاڼه کار کوي.[۳]

د ۱۳۹٦ کال لپاره، نړیوالو مرستندویانو د (۲۹۲٫۳۵٤) میلیارده افغانی (٤٫۱۷٦ میلیارده ډالره) ژمنه کړې ده، چې د ۱۳۹٦ کال د عمومي بودجې (٦۳) سلنه جوړوي، (۱۳۷٫۳۸۷) میلیارده افغانی (۱٫۹٦۲ میلیارده ډالره) د عادي بودجې، او (۱٥٤٫۹٦۷) میلیارده افغانی (۲٫۲۱٤) میلیارده ډالره یې د پرمختیایي بودجې لپاره ځانګړې شوې دي. د ۱۳۹٥ کال په پرتله په پرمختیایي بودجه کې د مرستندویانو ونډه، (۳٤٫٥۲۳) میلیارده افغانی (٤۹۳ میلیونه ډالره) اختیاري مرستې په توګه او (۱۱۷٫۱٦۱) میلیارده د غیری اختیاري مرستې په بڼه تخصیص شوي دی، او (۳٫۲۸٤) میلیارده افغانی (٤۷ میلیونه ډالره) د پور په بڼه تر لاسه کیږي. دا اندازه په ملي بودجه کې د ژمنه شوو مرستو له پلوه یو (۱٫۷) سلنه زیاتوالی په ګوته کوي چې په ۱۳۹٥ کال کې دا ژمنه (۲۹۷٫۲۳۳) میلیارده افغانی (٤٫٤۳٦ میلیارده ډالره) وه.[۳] د (SMAF) د کاري پرمختګ د راپور له مخې، د ۲۰۱٦ کال د جون په میاشت کې، د ټولې رسمي پرمختیایي مرستې (ODA) اندازه (٥۹) سلنه وه چې د ملي بودجې د سیستم له لارې یې د بسپنه ورکوونکو له لوري ژمنه شوې وه، چې د عمومي هدف یعنې (٥۰) سلنې څخه لوړه وه.[٤]

د بروکسل د کنفرانس اعلامیه ژمنه کوي چې د مرستو د اغیزمنتوب لا زیاتوالی، دا اړتیا په ګوته کوي چې باید په لوړه کچه د هیواد د سیستمونو او ګډو پروګرامونو د کارولو

---

[۳٦] هماغه ځای.
[۳۷] د مرستو د تنظیم ریاست، د افغانستان اسلامي جمهوریت، د بودجې عمومي ریاست، د مالیې وزارت،
http://www.budgetmof.gov.af/index.php/en/extensions/scorecards.
[۳۸] د مالیې د وزارت د مرستو د اداري د ریاست، چاړواکي سره مرکه ۲۷ نومبر، ۲۰۱۶..

[۳۹] باید یادونه وشي چې په ډالرو د ۱۳۹۶ ارقام په حقیقت کې د افغانی د استهالک له امله دي.
[٤۰] " په ځان د بسایني د دوه اړخیزه حساب ورکولو چوکاټ (SMAF) : د کاري پرمختګ راپور، "د افغانستان د اسلامي جمهوریت، سپتمبر ، ۲۰۱۶ کال

له لارې د افغان حکومت د مالکيت خپلولو ته، او د ژمنو سره سم د اغيزمنې پرمختيايي نړيوالې همکارۍ د مشارکت لاندې، وده ورکول شي. [٤] دا اعلاميه د ملي بودجې سره د مرستې په خاطر د انعطاف منونکو مختلفو بڼو امکاناتو د پيدا کولو پر بنسټ، د دولت له لورې د شوو قراردادونو په ګډون او د افغانستان د پراختيايي لومړيتوبونو، يعنې د افغانستان د بيارغونې د وجهي صندوق (ARTF) او د پروګرامونو د پراختيا د امکاناتو لکه د اړوندو هڅونکو او بيرته تاديه کولو پلانونو په ګوته کولو د مرستې لپاره ژمن دی. په هر حال، دا يادونه کوي چې د ملي بودجې ملاتړ به مشروط وي تر څو د حساب ورکولو او تفتيش ميکانيزمونو پرمختګونه دوام پيدا کړي. [٤٢] د بروکسل په کنفرانس کې يو بل تحليل داسې وه چې د مرسته ورکونکو ترمنځ د مرستو د اغيزمنتوب اړوند انديښنې او د افغانستان له لورې د ملي بودجې پرله پسې ملاتړ ته د پاملرنې د غوښتنې - د لګښتونو او د اداري فساد دوام مسايلو يادونه هم وشوه. په راپور کې راغلي، چې يو شمير هيوادونه د خپلو مرستو د لګښت لپاره زياتو شرطونو ايښودلو ته اړ شوي دي او په دغه اعلاميه کې پر پايلو ولاړې ژبې د کاروني غوښتنه کوله. [٤] ٣

د افغانستان ملي بودجه داسې جوړه شوې چې د حکومت له لورې کنټرول شوې مرسته د عمومي بودجې له لارې او مرستندويانو له لورې کنټرول شوې مرسته د بودجې څخه بهر پاته شوو پروګرامونو لپاره کارول کيږي. د افغانستان د روان انتقال په پام کې نيولو سره، چې د مرستندويانو پورې د ترلتيا پر ځای بايد پر خپل ځان بسيا مالي تنظيم خوا ته ولاړ شي، له ۱۳۹۴ څخه د ۱۳۹٦ کال پورې د ملي بودجې د ملاتړ په خاطر د پيسو په اندازه کې بيخي کوم بدلون نه دی راغلی، خو يوازې (۲) سلنه زياتوالی پکې راغلی دی. دا په داسې حال کې ده چې د عمومي پرمختيايي بودجې (۸۷) سلنه د بسپنه ورکوونکو د مرستو له لارې تمويليږي، چې د مرستو يوازې (۳۳) سلنه د حکومت د اختياري صلاحيت لاندې مصرفيږي، د بسپنه ورکوونکو د پرمختيايي بودجې د ملاتړ پاتې (٦۷) سلنه برخه نړيوالو مرسته ورکونکو د اختياري صلاحيت پر بنسټ د حکومت سره د تړونونو له مخې د ځانګړو پروژو لپاره مصرفيږي، له دې سره هم هغه د حکومت تر کنټرول لاندې ملي بودجې له لارې په مصرف رسيږي. که څه هم په ۱۳۹۵ کال کې په ملي بودجه کې د اختياري پرمختيايي مرستو د اندازې له پلوه زياتوالی راغلی دی، خو بيا هم د ملي بودجې سره د پرمختيايي مرستې يوه کوچنۍ برخه جوړوي.

## ٤. د عامه مالي چارو تنظيم او اصلاحات

٤.
د عامه مالي
چارو تنظيم
او اصلاحات

د عامه مالي چارو تنظيم د بسپنه ورکونکې ټولنې او د افغانستان د حکومت د بيا رغونې د اصلی هڅو څخه ګڼل کيږي. د عامه مالي چارو تنظيم په کوم کې چې د بودجې جوړول، لګښتونه، حساب ورکول او څارنه شامل دي، په افغانستان کې د حکومتي چارو د اداره کولو لپاره يو بنسټيزه وسيله ده. د څو کلن ستراتيژيک پلان سره په همغږۍ د ماليې وزارت او د لنډ مهالې بودجې چوکاټ (MTBF)، د حکومت د عامه مالي چارو د تنظيم طرحه (PFMR) په ګډه د پاليسۍ د تر ټولو مهمې ستراتيژيکې وسيلې په توګه دا موخه لري چې حکومت پر خپل ځان د بساينې د يادو شويو موخو په لور رهبري کړي او په بسپنه ورکوونکو پورې تړاو کم شي. [٤] د عامه مالي چارو د تنظيم دوهمه کړنلاره (PFMR II) د

---

[٤١] "په بروکسل کې د افغانستان په اړه د کنفرانس اعلاميه، " اکتوبر ،۲۰۱٦ کال، http://www.state.gov/r/pa/prs/ps/2016/10/262797.htm.

[٤٢] هماغه ځای.

[٤٣] "په بروکسل کې د افغانستان په اړه کنفرانس: د مرستو او مهاجرت ترمنځ اړيکي، "د افغانستان د شنونکو شبکه، د سپتمبر ۳، ۲۰۱٦. https://www.afghanistan-analysts.org/the-brussels-conference-on-afghanistan-between-aid-and-migration/.

[٤٤] "د عامه مالي چارو د تنظيم دوهمه طرحه ، "د افغانستان اسلامي جمهوريت، د ماليې وزارت، ۲۰۱۵.

حکومت د اصلاحاتو نوې ستراتیژۍ ده چې د ۲۰۱۶ کال څخه تر ۲۰۲۰ کال پورې موده تر پوښښ لاندې راولي. [٤] دا په ۲۰۱۵ کال د مالیې وزارت له خوا جوړه شوه، چې پر پنځه ستراتیژیکې موخو تمرکز لري:

١. تر څو د مالي خنډونو، د ملي لومړیتوبونو او روڼتیا په پام کې نیولو سره سمڅ بودجه جوړه شي
٢. تر څو ملي عواید زیات او ځان باندې بساینه او ثبات رامنځته شي
٣. تر څو داسې بودجه جوړه شي چې د اعتبار وړ او ملي او سیمه ایزو ستراتیژیو سره سمون ولري
٤. تر څو د پروګرامونو لپاره د یو سیستم پر بنسټ بودجه پلان، برابره او تطبیق کړي تر څو داسې خدمات وړاندې شي چې منابع، وخت او حساب ورکول پکې په پام کې نیول شوي وي
٥. تر څو څارنې او ارزونې، پلټنې، حساب ورکولو او روڼتیا ته وده ورکول شي، چې فساد کم، اغیزمنتوب، او د خلکو باور زیات کړي

دا ستراتیژۍ د یو پنځه کلن تطبیقي پلان په بڼه جوړه شوې او اصلاحات به د ولسمشر د دفتر له خوا څارل کیږي. [٤]
دا پنځه کلن اصلاحي پروګرام د افغان دولت له خوا د دې لپاره جوړ شوی چې د (PFMR II) پلي کولو سره مرسته وکړي، چې د اجراآتو د تنظیم د چوکاټ په دننه کې د کارونو د سرته رسولو د ټیم پر بنسټ د یو محرک پلان دنده پر مخ یوسي. دا پنځه کلن پلان د اصلاحاتو یوه بشپړه لړۍ تر پوښښ لاندې نیسي، تر څو د مالي چارو چوکاټ جوړ کړي چې د بودجې، مالي چاپیریال تحلیل، او د داسې منځمهالې بودجې چوکاټ غوره کول تر پوښښ لاندې نیسي چې ملي بودجه پکې په لنډ ډول شامله وي. سربیره پر دې، هغه د نغدو پیسو تنظیم او ژمنو د کنټرول دنده تر سره کوي، او راپور ورکول او پلټنه د تدارکاتو نوې جامع سیستمونه، د قرارداد تنظیم، او د راپور ورکولو او د دولتي لګښتونو د پلټنې لپاره د راپور ورکولو نوې سیستم په ګوته کوي. [٤]

د نړیوال بانک په وینا، د (PFMR II) لپاره د پنځو کلو یو د کار د پیل پلان جوړ شوی او د اجراآتو د اداره کولو دوره یې پیل شوې، چې په هغه کې به د راتلونکي کال په پیل کې د یو جامع پنځه کلن پلان خپرول شامل وي چې ور پسې به د پلان له مخې د کال په نیمایي کې یوه د کلني اجراآتو یوه ارزونه چې د راپور خپرول دي، صورت نیسي هم پکې شامل وي د تیرو کلو د اجراآتو پر بنسټ د یوه پیاوړي پنځه کلن پلان خپرول د راتلونکي کال په پیل کې هم په پام کې نیول شوي. د مالیې وزارت د اجراآتو د تنظیم یوه ډله (PMT)جوړ کړې تر څو دغه بهیر سره مرسته وکړي. [٤] د بودجې د پالیسۍ او اصلاحاتو ریاست یو چارواکي څرګنده کړه چې دوهمه ارزونه به د دسمبر په نیمایي کې ترسره شي، [٤] که څه هم لومړۍ ارزونې څخه داسې ښکاري چې د عامه خلکو په واک کې ورکول شوي وي.

## ٤،١ روڼتیا او حساب ورکول

د روڼتیا او فعال حکومت د حساب ورکولو میکانیزمونه د مالي چارو د تنظیم (PFM) د اغیزمنتوب لپاره مهم دي تر څو د افغانستان خلکو ته د حساب ورکولو بنسټیز معیارونه د عمل جامې واغوندې. د بودجې د پرانستې سروې

[٤٥] "د اقداماتو سند: د افغانستان دولت جوړونې قرارداد "، اروپایي ټولنه، ۲۰۱۶ کال، "
https://ec.europa.eu/europeaid/sites/devco/files/aap_financing_afghanistan_annex_1_20160906_en.pdf.
[٤٦] هماغه ځای.
[٤٧] " د ګډې پروژې معلوماتي اسناد ـ د افغانستان د تخنیکي مرستو آسانتیا،" د جون ۸، ۲۰۱۶.
http://documents.worldbank.org/curated/en/327091467989974321/pdf/PIDISDS-APR-Print-P157035-06-09-2016-1465497773595.pdf.
[٤٨] هماغه ځای.
[٤٩] د بودجې د پالیسۍ او اصلاحاتو ریاست سره د (EPD) مرکه، ۲۲ نومبر، ۲۰۱۶.

(OBS)په وینا، حکومت ټول هغه مهم اته (د بودجې څخه د مخه خبرپاڼه، د بودجې تطبیقي وړاندیزونه، تصویب شوې بودجه، د خلکو پر غوښتنو ولاړه بودجه، کلنۍ راپورونه، د کال منځمهالې کتنه، د ټول کال په پای کې راپور جوړول، او د پلټنې راپور چې له نړیوالو معیارونو سره سمون لري) بودجوي اسناد تیاروي او د خلکو په واک یې ورکوي. دا د شمیر له پلوه د هغه څه په پرتله یو خالص زیاتوالی څرګندوي چې حکومت د ۲۰۱۵ کال د بودجې د پرانستې سروې، د بودجوي اسنادو له لارې د ۲۰۱۴ کال د جون تر دیرشمې وخت منعکس کوي. د معلوماتو راټولولو د بودجې د راتلونکې پرانستې سروې (۲۰۱۷) د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر کې پیل کیږي، خو تر ټولو وروستۍ د بودجې پرانستې سروې د افغانستان ورکړل شوو شاخصونو له پلوه " مقید" ساتي. د ۲۰۱۵ کال لپاره افغانستان د سلو څخه په ۴۲ مقام کې ځای درلود، چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۱۷ نومرې لړه وه، د سروې له مخې د کال د نیمایي کتنې او د بودجې د عمومي پیشنهاد نه خپرولو ته نسبت ورکول شوی وه. د ارزونې د وخت راهیسې، افغانستان د کال د نیمایي کتنه خپره کړې، او د ۲۰۱۶ اپریل میاشت کې ټول اته واړه کتل شوي اسناد نوي کړي او اوسمهال د بودجې د پرانستې سروې د عامه وګړو واک کې ورکول کیږي.[٥٠]

د خلکو پر غوښتنو ولاړه بودجه چې پورته یاد شوې په ۱۳۹۰ کال کې رونیتیا ته د ژمنتیا او رونیتیا په خاطر وړاندې شوی دی او د خپرولو لپاره بیا په ۱۳۹۵ تیار شو، چې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو کې شته دی.[٥] د خلکو پر غوښتنو ولاړه بودجه د ملي بودجې ساده بڼه ده چې د حکومت عمده لمړیتوبونه، د بودجې د منابعو، تخصیصونه او لګښتونه، په بنسټیزو سکتورونو کښې موخې او مقاصد، په ګوته کوي. د مالیې وزارت هم د ۱۳۹۵ د ملي بودجې شرح، چې د یو ډیر جامع سند غښ ټکي جوړوي د ستراتیژیکو موخو او د ۱۳۹۵ بودجې، د اقتصادي لرلید، مالي ستراتژۍ او لرلید، د لګښتونو اجراآت او لرلید، د لګښتونو تحلیل او لرلید د هر سکتور لومړیتوبونو لرلید، د حکومت د لومړیتوبونو، د بودجې اصلاحات، ښاروالۍ، او دولتي تصدیو تطبیق - که څه هم دا سند یوازې په دري ژبه کې شته دی. دا راپورونه د بودجې د عمومي ریاست ویب پاڼه کې شتون لري.

پردې سربیره، د ۱۳۹۵ په دوران کې همدارنګه د مالیې وزارت میاشتیني مالي رسمي خبرپاڼه له ۲ نه تر ۹ میاشتې پورې خپور کړی دی، که څه هم دا اسناد په ۱۳۹۵ کال کې یوازې په انګلیسي ژبه موجود وو، چې د ۱۳۹۴ کال په پرتله کله کله په پښتو او دري ژبه هم تر نهمې میاشتې پورې خپور شوی دی. د مالیې وزارت همدارنګه په ۱۳۹۵ کال کې، لومړي او دویم ربعوار مالي رسمي پاڼه خپره کړې ده، که څه هم دا یوازې په انګلیسي ژبه شتون لري. په میاشتنیو راپورونو کې د بودجې مهمې برخې، تر اوسنۍ نیټې پورې د لګښتونو لنډیز، په سکتورونو د هغې ویش، په ولایتي کچه عواید او د منابعو لاسته راوړل او لګښت شامل دي. دري میاشتني مالي رسمي پاڼه کې ورته معلومات په ډیره ژوره توګه، او همدارنګه د پراخه اقتصادي کتنې، د ټولنیزې هوساینې لګښتونه، پور، او د مالي ثبات معلومات شامل دي.

د مالیې وزارت هم په ۱۳۹۵ کال کې چې د تطبیق شوې بودجې راپورونه د کمپیوټر د ایکسل پروګرام کې د راښکته کیدو وړ دی، هره اونۍ ترتیبوي. که څه هم دا یوازې په انګلیسي ژبه د لاسرسي وړ دي، دا راپور په دري او انګلیسي دواړو ژبو په یو ګډ سند کې تیار شوي. دا راپورونه د بودجې د عمومي ریاست په ویب پاڼه کې شتون لري. د مالیې

[٥٠] "د افغانستان د اپریل میاشت، ۲۰۱۶ نوي معلومات، "د بودجې نړیوال ګډون، اپریل، ۲۰۱۶ کال، http://www.internationalbudget.org/opening-budgets/open-budget-initiative/open-budget-survey/country-info/?country=af.

[٥١] د بودجی عمومي ریاست، د مالیې وزارت، http://www.budgetmof.gov.af/index.php/en/2012-12-06-22-51-13/national-budget.

وزارت هم په ۱۳۹۵ کې د لومړيو، او دريمې ربعې کې د بوديجې د دې اجراآتو د څارنې راپورونه خپاره کړي دي، او دواړه يوازې په درې ژبه د ماليې وزارت په ويب پاڼه کې شتون لري د بودجې اجراآتو د څارنې د کال د نيمايي راپور هم په درې ژبه په ۱۳۹۵ کې خپور شوی، په عين پته تر لاسه کيدای شي. د بودجې عمومي رياست همدارنګه د ۱۳۹۶ کال بودجوي تقويم هم په انګليسي او درې ژبه او همدارنګه د بودجې د متحدالمال لاربښوونې د عامه مالي چارو تنظيم او د اصلاحاتو (دواړه لومړی او دوهم متحدالمال) لپاره خپاره کړي دي. [۳]

د تدارکاتو ملي اداره (NPA) د ۲۰۱۴ کال په وروستيو کې جوړه شوې ده تر څو د افغانستان د عامه تدارکاتو په سيستم کې د روښتيا سره مرسته وکړي. د تدارکاتو د پاليسۍ څانګه (NPA) چې د ماليې وزارت په چوکاټ کې يې کار کاوه، د ولسمشر د اداري چارو دفتر ته وليږدول شو. [۵] د پر ځان متکي دوه اړخيزه حساب ورکولو چوکاټ (SMAF) د داسې يو شاخص لرونکی دی چې د تدارکاتو د ملي کميسيون (NPC) په چوکاټ کې د ۲۰۱٦ کال په دويمه نيمايي کې د افغانستان له قانون سره سم د خدمت د معيارونو اقدامات غوره او پلي کوي، تر څنګ يې د پر ځان متکي دوه اړخيزه حساب ورکولو چوکاټ د کاري پرمختګ راپورونه چې په کومه بڼه ترلاسه کړي دي، طبقه بندي کوي. د راپور له مخې، د تدارکاتو ملي اداري د خدماتو نهه معيارونو غوره کړي چې په هغو کې: (۱) د عامه تدارکاتو مقرراتي چوکاټ د حکومت له مکلفيتونو سره چې د نړيوالو مالي ادارو پر وړاندې يې لري، سمون لري؛ (۲) د برښناييي سيستم له لارې د دولت تدارکاتي سيستم به په جلا مقرره کې تر پوښښ لاندې راشي؛ (۳) د تدارکاتو ملي اداره او تدارکاتو ملي کميسيون به د طرزالعملونو اصول په يوه جلا مقرره کې تنظيموي او په دې اړه د قرارداد کولو پربکړه به په ۲۸ کاري ورځو کې کيږي؛ (٤) دولتي او شخصي عامه همکاری مقرره؛ (٥) د طرزالعملونو د مخنيوی اصول؛ (٦) خپلواک استيناف غوښتنه او کتنه؛ (٧) د قراردادونه د تطبيق څارنه؛ (٨) د ملي تدارکاتو د انستيتوت (NPI) تاسيس تر څو د تدارکاتو پروسه مسلکي کړي؛ (٩) د تدارکاتي فرصتونو خپراوی، د تدارکاتو د ملي کميسيون پرېکړې، د چاپ قراردادونو ورکول او منع شرکتونه په ګوته کول. د پر ځان متکي دوه اړخيزه حساب ورکولو چوکاټ د نهو شخه پنځه يې يا په بشپړه توګه پلي شوي او يا يې پلي کيدل روان دي، او څلور د پرمختګ په حال کې دي. [۵]

د پلټنې عالي اداره (SAO) داسې يو بنسټ دی چې دنده يې په حکومت کې د لګښتونو د سم حساب ورکولو ډاډ تر لاسه کول دي. د تير کال د بودجې د بيا کتنې پر بنسټ، د قطعيې د حسابونو پلټنه - د کال په پای کې دولتي مالي صورت حساب برابرول – د پلټنې د اداري وروستی نسخه د هغه اداري په ويب پاڼه کې په ۲۰۱۳ کال کې خپره او بيا نوی شوی نه ده. د سولې او ډموکراسۍ د يوشانوالي د مؤسسې د بودجې د تير کال بيا کتنه په ګوته کوي چې، د عامه مالي چارو د تنظيم يو کارپوه ادعا کړې، چې دا پلټنې دوام لري، خو د پلټنې د عالي اداري په ويب پاڼه کې تازه معلومات شتون نه لري. د اړوندو وزارتونو د مطابقت د پلټنو او / يا پراختيا وروستي ارقام د ۱۳۹۲ کال د پلټنې څخه را وروسته هيڅ معلومات نوی شوي نه دي، دا په اړوندو وزارتونو کې د تر سره شوو داخلي پلټنو، کومې چې د پلټنې د عالي اداري په مرستئه تر سره شوي، هم دلالت کوي. [۵]

[۵۲] سمونوال چارلس وارشيم III، "عمليات: د تدارکاتو اصلاحات،" ۳ می، ۲۰۱۶، https://www.army.mil/article/167236/operation_procurement_reform

[۵۳] "په ځان د بسايني د دوه اړخيزه حساب ورکولو چوکاټ (SMAF) : د کاري پرمختګ راپور، "د افغانستان د اسلامي جمهوريت، سپتمبر ، ۲۰۱۶ کال

[۵٤] "د افغانستان د مرستو د صندوق د ۲۰۱۴ د اجراآتو او د مديريت د جامع چوکاټ د نومرو ورکولو کارت، "د افغانستان د بيارغونې د وجهي صندوق، ۲۰۱۵ .

معلوماتو ته د لاسرسي قانون د ولسمشر غني له خوا په ۲۰۱۴ کال د دسمبر په میاشت کې لاسلیک شوی، [۵] او د معلوماتو د لاسرسي د څارنې کمیسیون په ۲۰۱۵ کال کې جوړ شوی دی، چې د مدني ټولنې غړي پکې شامل دي. [۵] که څه هم، د تېر کال د بودجې د بیاکتنې څخه وروسته لږ د پام وړ پرمختګ شوی دی، ځکه ژورنالستان او د مدني ټولنې غړي د هغو د پلي کیدو په اړه په پرله پسې توګه اندیښنې لري. [۵] د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر کې، ٧
ولسمشر غني معلوماتو ته د لاسرسي د پلي کولو اړوند یو نوی فرمان صادر کړ، چې د دغه قانون ملاتړ کوي او حکومتي چارواکو څخه غوښتنه کوي چې اړین معلومات برابر کړي. [۵] ځینې همدا شان اندیښنې لري چې نوموړی قانون په خپله لا اوس هم تر یوې اندازې ستونزې لري. د مثال په توګه، د قانون په ۱۵ ماده کې راغلي چې که د یو چا ژوند، مال، ویاړ یا وقار په خطر کې اچوي، نو د معلوماتو ورکول منع ګڼل کیږي د دغه شان لغاتو استعمال لکه شان، غرور او وقار په قانون کې یو ابهام رامنځته او د قانون پلي کیدو غوښتنه کوي. [۵] ٩

## ۴،۲ پر پایلو ولاړ د پروګرام د بودجې جوړول، څارنه او ارزونه

د پروګرام د بودجې اصلاحات په ۱۳۸۶ کال کې، د پروګرام پر بنسټ د بودجې جوړول د افغانستان حکومت له لورې د چمتو شوي بودجې د یو رسمي چوکاټ په بڼه په ۱۳۹۰ کال کې وړاندې شو. [٦] د پروګرام پر بنسټ د بودجې جوړولو موخه دا ده چې د بودجې د تخصیص او پلان جوړونې پریکړې د لګښتونو د هغو اړینو تفصیلاتو سره چې پلان شوي پرورګرامونو، فرعي پروګرامونو او پروژو ته د دولت د پراخه مقاصدو سره سمون ورکول شي. د ۲۰۱۰ کال د عامه مالي چارو د تنظیم کړنلاره داسې جوړه شوې چې د پروګرام بودجه په ۲۰۱۱ کال کې په خپله اصلي بڼه په بشپړه تطبیق شوې. [٦] د عامه مالي چارو د تنظیم دوهمه کړنلاره (PFMR II) تشریح کوي چې د پروګرام بودجه جوړونه نه ده توانیدلې چې د تطبیق بل پړاو ته ولاړه شي - پر پایلو ولاړه بودجه، د پایلو او نتایجو په کار اچول دي تر څو اجراآت عملي او ملي مقاصد تر لاسه شي.

د مالیې وزارت د بودجې د تطبیق ریاست یو چارواکي ویلي چې دا پروګرام د بودجې په ټولو بودجوي واحدونو کې پلي شوی دی، خو دا یې روښانه کړې چې په عملي توګه دا یو بریالي بهیر نه وه، ځکه چې یوازې لومړی پړاو یې عملي شو. دې چارواکي ویلي چې د حکومت له یو ملي پرمختیایي چوکاټ څخه بل ته لیږدول شوی، خو د اړوندو وزارتونو «دا» ستراتیژۍ په دوامداره توګه نوي شوي یا غزیدلې نه دي، نو له همدې امله د حکومت په پالیسیو کې یوه نیمګړتیا موجوده ده چې د پروګرام د بودجې جوړولو ته د ستراتیژیو سره تړاو ورکړي. دې چارواکي دا احساس کاوه، چې د پروګرام د بودجې جوړولو بهیر اوس 'بند' شوی دی. [٦] د پروګرام د بودجې د طرحې په اړه ویل کیږي چې د مسودې په حالت کې ده تر څو د عامه مالي چارو د تنظیم په دوهمه کړنلاره PFMR II کې شامله شي، خو په داسې یو سند تازه معلومات شتون نه لري.

د ۲۰۱۴ کال د اګست په میاشت کې، د مالیې وزارت کې د لسو وزارتونو او ادارو د څارنې او ارزونې (M & E) د

[۵۵]: " ATN په افغانستان کې د معلومات ته د لاسرسی قانون اړوند د ژورنالیزم اصلي ستونزه، " ۲۸ سپتمبر، ۲۰۱۵.نی :
[۵٦] "معلومات ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون جوړ شو، "افغانستان د بشپړتیا څار، ۸ سپتمبر، ۲۰۱۵.
[۵۷] "معلوماتو ته د لاسرسي فرمان صدور، "۱۶ اکتوبر، ۲۱۰۶ ، http://www.pajhwok.com/en/2016/10/16/decree-issued-accelerating-access-information.
[۵۸] هماغه ځای.
[۵۹] " معلوماتو ته د لاسرسي قانون لا تر اوسه نه دی پلې شوی، http://www.tolonews.com/en/afghanistan/25300-access-to-information-law-still-not-implemented.
[٦٠] د بودجې د پالیسۍ او اصلاحاتو ریاست، د بودجې عمومي ریاست، د مالیې وزارت، http://www.budgetmof.gov.af/index.php/en/using-joomla/modules/budget-reform-unit
[٦١] نیکول برتزیک او احمد سلیمان هدایت، "په افغانستان کې د جنسیت پر اړتیاوو ولاړه بودیجې: یو کار د پرمختګ په حال کې،" د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، سپتمبر، ۲۰۱۶ کال http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/GRB%20Issues%20paper%20English%20for%20ebook.pdf.
[٦٢] د بودجې د تطبیق ریاست چارواکي سره د (EPD) تر سره شوې مرکه، ۲۰ نومبر ۲۰۱۶ .

سیستمونو یو نمونه یی ارزونه هم ترسره کړې، که څه هم دا راپور یوازې د مالیې وزارت ویب پاڼه کې د ۲۰۱۵ کال د جون میاشت کې خپور شو. بیا کتنې کې وموندل شول چې د وزارتونو او ادارو د خپلو فعالیتونو اړوند پلان جوړولو او د څارنې او ارزونې د سیستمونو جوړولو په ډېرو بیلا بیلو پړاوونو کې قرار لري. خو دې راپور موندلې چې په ټولو وزارتونو کې، ستراتیژیک پلانونه زیاتره شتون لري، خو په عمومي توګه د کلنې پلان جوړونې او د اجراآتو د بیاکتنې د بنسټ په توګه نه استعمالیږي، سره له دې چې د ملي لومړیتوب پروګرامونه (NPPs) یې اوس مهال د خپل پلان جوړونې او د څارنې په کار او ستراتیژیک پلان کې نه ده شامله کړې، پایله دا شوې چې د اجراآتو پلانونه چې په دوهم متحدالمال کې وړاندې شوي پایلې یې په ښه توګه نه دی منعکس شوې، د بودجې د تطبیق د ریاست د چاروکې د مشاهداتو سره سم، د نوموړې سره د دې راپور لپاره مرکه شوې ده.

د ۲۰۱۴ کال د څارنې او ارزونې د ارزونې بهیر موندلې چې ټولو بودجوي واحدونو (BUs) د اجراآتو د څارنې چوکاټ نه درلود، او چیرې چې موجود وو نو هغه په عمومي توګه، د پایلو د ځانګړتیاوو، شاخصونو، او د اساسي سرچینو د روښانتیا او د څارنې د معلوماتو وضاحت له نظره کمزوري وو. دې ارزونې دا هم موندلې چې د پروژې ارزونه او وزراتونو او ادارو په منځ کې غوراوی په عمومي توګه د منظمو یا هوکړه شوو بهیرونو یا طرزالعملونو پر بنسټ نه دی تر سره شوی یا طرزالعملونه پرته له دې عملي شوي او په ژوره توګه یوازې د اړونده پرۆګرامونو ستراتیژیو سره تړاو لري. [٦] دې ارزونې موندلې چې یوازې یو څو پروګرامونو د اجراآتو د څارنې او ارزونې فعال سیستمونه درلودل، او د معلوماتو د راټولولو او راپور ورکولو بهیرونه په عمومي توګه د راپور ورکولو په برخه کې حتی د هغو راپورونو په اړه چې د مالیې وزارت ته د وړاندې کولو په دوهم متحدالمال کې یې لاسته

راوړنې مشخص شوي، کمزوري وو. په همدې ډول، دا هم معلومه شوه چې د بودجوي واحد د اجراآتو د راپور ورتیا هم کمزورې وه، چې زیاتره وخت به یې د فعالیتونو پلان په پام کې نه نیوه او زیاتره به یې پرته له دې چې پلان شوې پایلې او شاخصونه په نظر کې ونیسي تشریحي تفصیلات وړاندې کول. دې ارزونې موندلې چې هیڅ یو وزارت یا ادارې په خپله اداره کې د اجراآتو د څارنې ډیټابیس نه درلود، په داسې حال کې چې پر پایلو ولاړ د اجراآتو پلانونه، اساسي معلومات او د اجراآتو و د لاسته راوړنو معلوماتو شتون درلود.

د څارنې او ارزونې، ارزول په حکومتي کچه د اجراآتو د څارنې او ارزونې د سیستم (GPMES) ایجادول او بنسټیز کول د بهیر د لومړي پړاو استازیتوب کوي. د سولې او ډموکراسۍ د پوښانوالي مؤسسې د تیر کال بیا کتنه تشریح کوي، که څه هم دا په لومړي سر کې داسې پلان شوې وه چې باید د مالیې وزارت له خوا و کارول شي، د مالي چارو د تنظیم یو کارپوه ویلي چې د ولسمشر دفتر په دې وروستیو کې دا غوښتنه کړې چې په دې برخه کې زیات مسئولیت په غاړه واخلي. د تیر کال په ترڅ کې د دې سیستم د جوړولو په اړه د پرمختګ اړوند کوم نوي او تازه معلومات نه شته. د عامه مالي چارو د تنظیم دوهمه کړنلاره (PFMR II) یادونه کوي چې د مالیې وزارت به د څارنې او ارزونې، او د پروګرام د څارنې مشري په غاړه واخلي، او د لاسته راوړنو او پایلو په اړه به د مالیې او اقتصاد وزارتونه په ګډه هڅې کوي. په ۲۰۱۵ کال د ۲۰۱۴ کال د څارنې او ارزونې د خپرولو راهیسې، د پرمختګ او یا د سپارښتنو د پلي کولو هیڅ تازه معلومات نه دی خپور شوی.

## ۴٫۳ ولایتي بودجه جوړول

[٦٣] "په وزارتونو او دولتي ادارو X;د څارنې او ارزونې سیستمونو ارزونه ، "د افغانستان د اسلامي جمهوریت، د مالیې وزارت او د اقتصاد وزارت، د ۲۰۱۴ کال د اګست میاشت،

http://www.budgetmof.gov.af/images/stories/DGB/BPRD/PERU/Full%20Diagnostic%20Report%20Final%20(3March2015).pdf.

په ۱۳۹۴ کال کې د ولايتي بودجې پالیسي جوړه شوه، چې موخه یې: (۱) د بودجې په بهیر کې د مرکزي او سیمه ایزه ادارو لپاره د یو قانوني چوکاټ رامنځته کول، او همدارنګه د ولايتي شوراګانو د مشورتي نقش د مسئولیتونو تعین؛ (۲) ولايتي ادارو ته د عامه چارو د تنظیم د مسئولیتونو او واکونو متناسبه سپارښتنه؛ (۳) د منابعو د افقي او عمودي تخصیص لپاره د عادلانه خدمتونو د وړاندې کولو د ضمانت معیاري چوکاټ رامنځته کول؛ (٤) د موجوده او نویو شتمنیو د ساتنې لپاره د کافي منابعو تخصیص برابرول؛ (۵) د بودجې په جوړولو، تطبیق او څارنه کې ولايتي چارواکو ته د ونډې په پام کې نیول؛ (٦) د مرکزي او ولايتي ادارو تر منځ د همغږۍ او مفاهمې پراختیا؛ (۷) د خدمتونو د وړاندې کولو پر پایلو او د بودجې د تدوین او تطبیق پر کار تمرکز؛ او (۸) د بودجوي ارقامو /احصایو د خپرولو او د ښکیلو اړخونو د راپور ورکولو د بهیر ساده کول. [٦]

د دې کلنۍ بودجې د بیا کتنې موندنو ته په پام، د سولې او ډموکراسۍ د یوشانوالي مؤسسه لاندې سپارښتنې کوي: نوموړې پالیسۍ د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په میاشت کې د کابینې له لورې منظور شوې ده. [٦] د لاندې بهیر له لارې د پورتنیو مقاصدو پر تر لاسه کولو تمرکز کوي:

- درې کاله په آزمېښتي ډول په کار اچول؛
- د بودجوي نورم د کارولو له لارې پر بنسټ د منابعو افقي او عمودي تخصیص؛
- د اړوندو وزارتونو د پریکړو له مخې د زیاتو مسئولیتونو انتقالول، چې په هغو کې د پرمختیایي او عادي بودجې واک هم شامل دی؛
- د بودجې تقویم کې بدلون تر څو د ولايتي بودجې د برابرولو لپاره ډېر وخت ورکول شي؛
- د هغې بودجې څخه چې د "غیر ې شرطیه مرستو" په نامه یادیږي، د هغو سکټورونو لپاره چې بودجه ور ته په پام کې نه ده نیول شوې، نورې آسانتیا برابرول؛
- د ولايتي بودجې د جوړولو لپاره د کارپوهانو استخدام تر څو په ولایتونو کې مستوفیتونو سره د پروسې په پرمخ وړلو کې مرسته وکړي. [٦]

د ولايتي بودجې پالیسۍ رامنځته شوه تر څو د سیمه ایزې حکومتدارۍ د پالیسۍ (SNGP)، متممه ثابته شي، کومه چې د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري (IDLG) له خوا په ۲۰۱۰ کال کې جوړه شوې. که څه هم دا اوږد سند پیچلی، د سیاسي پلوه مبهم، د اداري له پلوه کمزوری دی، نو له همدې امله دا پالیسۍ په عمومي توګه نه ده عملي شوې. [٦] په ۲۰۱۵ کال کې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري (SNGP) بیاکتنه پیل کړه، خو اوس مهال داسې ښکاري چې د کار لاندې وي او کار یې بشپړ شوی نه دی، تر څو د کابینې له خوا تصویب شي. [٦] سربیره پر دې، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري د ولايتي ستراتیژیک پلان یوه مفکوره وړاندې کړه چې دا به هر ولایت ته زمینه برابره کړي تر څو د امنیت، حکومتدارۍ او اقتصادي پرمختګ په برخو کې هر اړخیز ستراتیژیک لرلید، او له ملي پلانونو او ستراتیژیو سره په سمون کې رامنځته کړي. دا ستراتیژیکه پلان جوړونه به د والیانو د دفترونو له لورې رهبري او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري (IDLG) له خوا به ورسره تخنیکي مرسته او ملاتړ کیږي. تر څو په سیمه

---

[٦٤] "د ولايتي بودجې د ۲۰۱۴ کال پالیسي، "د افغانستان د اسلامي جمهوریت، د مالیې وزارت،
http://mof.gov.af/Content/Media/Documents/PBPolicy_approved(Oct,02,2015)English-2112015113253258553325325.pdf.

[٦٥] نیکول برتزیک او احمد سلیمان هدایت، "په افغانستان کې د جنسیت پر اړتیاوو ولاړه بودجه: یو کار د پرمختګ په حال کې،" د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، سپتمبر، ۲۰۱۶ کال

[٦٦] نعمت الله بیژن او فرحت ایمل، "د دولت سره د خلکو نژدې کول: په افغانستان کې په مرکزیت نه ولاړ پلان او بودجه،" د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، جولای، ۲۰۱۶.
http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/1614E%20Bringing%20the%20State%20Closer%20to%20the%20People.pdf.

[٦٧] هماغه ځای.

[٦٨] هماغه ځای.

ایزه کچه د ستراتیژیک پلان جوړولو مالکیت ریښه و نیسي، نو مشارکتي[9]او جامع پلان د نظر یوه برخه ده. [6]

د ۱۳۹۵ کال د ملي بودجې په جوړولو کې، حکومت د یوې غیر رسمي ضمیمې په توګه پارلمان ته د وړاندې کیدونکې بودجې تر څنګ د ولایتي تخصیصاتو لنډ معلومات هم شامل کړل [7] او د ۱۳۹٦ کال لپاره د بودجې عمومي ریاست ویب پاڼې د ملي بودجې ولایتي تفصیلات په دري او پښتو ژبه پارلمان ته و استول. د مالیې وزارت، د بودجې د تطبیق د ریاست یو چارواکي په یوه مرکه کې[2]ویلي چې د ولایتي بودجې اصلاحات په څو اړوند وزارتونو کې آزمایل شوي دي، او دوی اوس مهال د پالیسۍ او د بودجې د پلان جوړولو د طرزالعملونو په برخه کې په غیری مرکزي کولو تمرکز کوي تر څو په هغې کې ولسوالۍ او لیرې پرتې کلیوالې سیمې شاملې کړي. چارواکي دا احساس کاوه، چې د آزمایښتي وزارتونو شمیر زیاتیدو ته اړتیا لري او باید توضیح شي چې د اوسني حکومت تګلاري عموما له پورته څخه ښکته میکانیزمونو تمرکز لري، او ولایتي آزمایښتي بودجې جوړول په موخو کې توپیر لري. چارواکي دا روښانه کړه چې د بودجې په پلان جوړونه کې، سیمه ایزو دولتي چارواکو او ادارو د ۱۳۹٦ کال د ملي بودجې په جوړولو کې هیڅ نقش نه دی لوبولی. [7] ١

په همدې ډول، چارواکي څرګنده کړه چې په دې وروستیو کې په کابل کې د بودجې د تطبیق په اړه یوه غونډه شوې ٣
چې ولایتي استازو ته د ویډیو کنفرانس له لارې د ګډون بلنه ورکړل شوې وه، خو ده څرګنده کړه چې پایلې محدودې وې ځکه چې د تدارکاتو زیاتره کړنلارې لا تر اوسه په کابل کې تمرکز کړې دی. سیمه ایزه چارواکي د بودجې د تطبیق یو څه څارنه کوي، خو د قراردادونو په اړه محدود معلومات، نقش او واک لري. ده باور درلود چې د تدارکاتو د قانون په اړه روانو هڅو کې به ښه والی راشي او په ګړندي کولو او د ولایت په کچه د بودجې د تطبیق د موضوعاتو هوارولو په برخه به د ولایتي چارواکو ملاتړ وکړي. چارواکي دا احساس کاوه، چې د ولایتي بودجې جوړنې پرمختګ لږ دی او دا ځکه چې اصلاحات له څو کلونو راهیسې په پلان کې دي، او لکه د پروګرام د بودجې جوړونې په څیر، د ولایتي بودجې اصلاحات د وروستیو پرمختګونو په پام کې نیولو سره چې د پالیسۍ په کچه تر سره شوي پر 'ځای ولاړ' پاتې دي. [7]

د څیړنې او ارزونې د ادارې د ۲۰۱٦ کال یو راپور ارزونې دا ښودلې چې د ولایتي بودجې اصلاحات او عدم متمرکز سیستم په عمومي توګه دې پایلې ته رسیدلې چې د ولایتي بودجې د پالیسۍ د اغیزمنې بودجې جوړولو او د پلان جوړونې په لور یو مثبت ګام دی، دا په څرګنده توګه د ښسټونو نقش نه رامنځته کوي او په پراخه توګه د نورو دولتي ادارو پر اجراآتو اړخ لګوي تر څو د تطبیق ډاډ تر لاسه کړي. دا پر دې سربیره نه شي کولای یو تسلسل په ګوته کړي چې دا وښئ چې د لګښتونو له نظره دندې ولایتي ریاستونو ته انتقال شوي دي. د ناسمو هڅو د کلونو څخه وروسته او په عدم متمرکز سیستم کې د بودجې بهیرونه، پالیسۍ مبهمې او د ادارو یو تت نقش وړاندې کوي، ځکه چې هلته د ګټورو جوړښتیزو اصلاحاتو له لورې کافي ملاتړ موجود نه وه، [7] د ولایتي بودجې د اصلاح په مخ کې پرته یوه ننګونه ده.

٦٩ نیکول برتزیک او احمد سلیمان هدایت، "په افغانستان کې د جنسیت پر اړتیاوو ولاړه بودجه: یو کار د پرمختګ په حال کې،" د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، سپتمبر، ۲۰۱٦ کال

٧٠ نعمت الله بیژن او فرحت ایمل، "د دولت سره د خلکو نژدې کول: په افغانستان کې په مرکزیت نه ولاړ پلان او بودجه،" د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، جولای، ۲۰۱٦.

٧١ د بودجې د تطبیق اجرا د ریاست له چارواکي سره د (EPD) ترسره شوې مرکه، ۲۰ نومبر ۲۰۱٦.

٧٢ د بودجې د تطبیق اجرا د ریاست له چارواکي سره د (EPD) ترسره شوې مرکه، ۲۰ نومبر ۲۰۱٦.

٧٣ نعمت الله بیژن او فرحت ایمل، "د دولت سره د خلکو نژدې کول: په افغانستان کې په مرکزیت نه ولاړ پلان او بودجه،" د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، جولای، ۲۰۱٦.

## ٤,٥ د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجه

پرله پسې جنسي نابرابری او د هغوی د پایلو معلومول، د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجه (GRB) په ۱۳۹۰ کال کې په افغانستان کې د بودجې د پالیسی د اصلاح د یوې برخې په توګه وړاندې شوه. د مالیې وزارت د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجه د بودجې د پالیسۍ د اصلاح په توګه د یو آزمایښتي روش په بڼه ۱۳۹۰ کال کې وړاندې کړه. شپږ وزارتونه د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې د نوښت لپاره غوره شوي وو - د ښوونې او روزنې وزارت، د عامې روغتیا وزارت، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، او د کار، ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت. په ۲۰۱۵ کال، (EPD) یوه بیا کتنه تر سره کړه چې د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجه و ارزوي، چې له هغه وروسته په ۲۰۱٦ کال کې د څېړنې او ارزونې اداري یوه ارزونه تر سره کړه. د څېړنې او ارزونې اداري دې راپور د سولې او ډموکراسۍ د یوشانوالي د موسسې د بیا کتنې سره ورته معلومات تر لاسه کړل – او هغه دا چې په ملي اسنادو کې د جنډر د مساوات څخه پرله پسې یادونه کېږي، او په مالي تخصیصونو او د ملي بودجې په پلان، تطبیق، او د اجراآتو د ارزونې د جنډر مساوات په پام کې نه نیول کېږي. [74] په راپور کې دا یادونه هم شوې چې زیاتره پروګرامونه، د جنسیت د نابرابرۍ او په افغانستان کې د ښځو د پیاوړتیا د ملي بودجې څخه بهر تمویلیږي. [75]

د مالیې وزارت په ۲۰۱۵ کال کې د جنډر ستراتیژیک عمل پلان خپور کړ. که څه هم د ستراتیژیک عمل پلان وړاندې کولو ته ښايي چې د یو مثبت ګام په سترګه وکتل شي، د (EPD) د ۲۰۱۵ کال ارزونې دا وموندله چې دا پلان د عملي کیدو وړ نه دی، او تر دې نیټې د هغوی د تطبیق په اړه پرمختګ تر ډېرې کچې محدود دی. د عمل په پلان کې، د مالیې وزارت ژمنه کړې چې دوهم متحدالمال کې تعدیلات رامنځته کړي چې د ۱۳۹٦ کال د بودجې څخه د مخه د جنسیت پر بنسټ د لاسته راوړنو راپور په جبري توګه شامل کړي. د څېړنې او ارزونې د راپور له مخې، د مالیې وزارت د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجې آزمېښتي وزارتونو لپاره د لومړي او دوهم متحد المال کې یو تعدیل وړاندې کړی دی. د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجه له وزارتونو څخه غواړي چې د نارینه او ښځینه ګټه اخستونکو، د ښځو لپاره د تخصیص شوې بودجې سلنه، او د هغو پروژو چې موخه یې د ښځو سره مرسته ده او د مالي کال لپاره وړاندیز شوی وه، لنډ معلومات برابر کړي.[76] په هر صورت، د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجه د یوې جلا برخې په توګه "GRB " پریزنټېشن دا په ګوته کوي چې هغو ادارو څومره بودجه د ښځو لپاره د یو امتیاز پر بنسټ په پام کې نیولې، چې د جنډر د برابرۍ لپاره جلا بودجې ته وده نه ورکوي، خو د جنسیت برابري د ټولې بودجې په بهیر کې شاملوي. سربیره پر دې، (EPD) د ۱۳۹۵ د بودجې د پلان جوړونې د بهیر د لومړي او دوهم متحدالمال بیا کتنې دا معلومات په لاس راوړي چې د دې برخو بشپړول باید د بکس د نخښه کولو د یو پراخه کچې تمرین له لارې تر سره شي، دا په داسې حال کې ده چې ستراتیژیک پلان هم دا مني چې د اړوندو وزارتونو له خوا تیار شوی معلومات کافي نه وه.

لکه څنګه چې د ۱۳۹٦ د وزارتو د بودجې غوښتنې د کتنې لپاره شتون نه درلود، دا لا ممکنه نه ده چې معلومه شي چې آیا د لومړي او دوهم متحدالمال د اصلاحاتو پر لور یو ګټور کوښښ دی. په هر حال، د مالیې د وزارت د بودجې عمومي ریاست د جنډر له نظره د ۲۰۱٦ کال د ډسمبر په میاشت کې د بودجې مسودې اړوند پریزنټېشن چمتو کړی. دغه سند په ورته ډول د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې په اړه دا څرګندوي، چې دا لاندې لنډ معلومات د جنډر موضوعاتو د پاملرنې په خاطر د ۱۳۹٦ کال په بودجه کې په پام کې نیسي:

- پر خپل ځان د بسیاینې ستراتیژي تطبیقول تر څو وګړي په مساوي توګه د کار زمینې د برابریدو په برخه کې ترې ګټه پورته کړي،
- د وګړو د پروګرام منشور باید تطبیق او باید خلکو ته د مساوي خدمتونه شرایط برابر کړي،
- د نجونو پر ښوونه او روزنه او د ښځو د سواد پر زده کړې باندې دولتي پانګونه،

[74] نیکول برتزیک او احمد سلیمان هدایت، "په افغانستان کې د جنسیت پر اړتیاوو ولاړه بویجه: یو کار د پرمختګ په حال کې،" د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، سپتمبر، ۲۰۱۶ کال

[75] هماغه ځای.

[76] هماغه ځای.

- د ښځو د پیاوړتیا لپاره د کارونو برابرول او رامنځته کول تر څو هغوی د محرومیت څخه وژغورل شي،
- د داخلي بېځایه شوو کورنیو لپاره کافي خدمتونو لکه (سرپناه، خواړه، پاکې اوبه، روغتیایي خدمتونه او زده کړې) برابرول [۷] [۷]

دا پریزنټېشن پر دې علاوه په ولایتي بودجې کې د جنډر د مساوات په پام کې نیولو سره وړاندیز کوي چې د بودجې د لومړی او دوهم متحدالمال په فورمو کې د جنډر ولایتي بودجې ته ځای ورکولو او د جنسیت له نظره تحلیل د ۱۳۹٦ د بودجې په مسوده کې په ګوته کوي. په هر حال، له هغه وروسته دا تحلیل د پوهنې او د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارتونو د بیلګو له لارې وړاندې کوي. د پوهنې وزارت تحلیل دا څرګندوي چې ښځینه ګټه اخستونکې د ۱۳۹٦ کال پرمختیایي بودجې لپاره چې د ۳۵ څخه تر ۴۰ سلنه پورې ده او دا څرګندوي چې ښځینه زده کوونکو نوم لړ او د ښځینه زده کوونکو لپاره د موادو برابرول د جنډر تحلیل جوړوي. د کلیو د پراختیا وزارت کې، د ښځینه ګټه اخیستونکو لپاره نیمګړې تفصیلات، د کوم په اړه چې ویل کیږي د اوبو لګول (۵۱)، د کلیوالو سړکونو ایجاد (۸) سلنه، د سیمه پیوستون پروګرام (۵۰)، او د ښاریانو منشور (۵۰) دی، حال دا چې پر هغه څه چې د یادو شوو شمېرو پر بنسټ ولاړې، خو دا د اغیزمنې ځارنې او ارزونې د سیستم په نشتون کې ترلاسه شوي دي. پریزنټشن دا منې، چې د لومړی او دوهم متحدالمال د تحلیل لپاره معیاري وسیلو ته اړتیا ده، که څه هم د دې کار تر سره کولو لپاره وسایل لا د مخه د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې په لارښود کې وړاندې شوي او د مالیې وزارت له خوا منظور شوي دي.

د جنډر د عمل ستراتیژیک پلان‌هم ژمنه کړې چې د وزارتونو ترمنځ د همغږۍ کمېټه ایجاد کړي، چې د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې اړوند موضوعات د تخنیکي مرستو د مشرتابه په کمیټې (TASC)کې د اجباري ځارنې او جنسیت ولاړو فعالیتونو لپاره مطرح کړي.د جنډر د ځانګو پیاوړتیا، د اجراآتو د تنظیم په اړه د جنډر د برابرۍ د مقاصدو د ودې او ارزونې، او نادولتي موسساتو سره ملګرتیا کول. د بودجې د عمومي ریاست د ۲۰۱٦ کال د دسمبر د میاشتې پریزنټېشن د بل پړاو په توګه د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې لپاره ۵ کاري شرایطو ایجادول مطرح کوي. [۷]

په ۲۰۱۵ کال کې، (EPD) د مالیې وزارت او د ښځو چارو د وزارت چارواکو سره د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې په اړه د روزنې یو پروګرام تنظیم کړی، چې له هغې وروسته یې د جنډر د استازو لپاره په امتحانی وزارتونو کې روزنه برابره او روزنه ورکړه، دا داسې ستراتیژۍ وه چې په پایله کې باوري وګڼل شوه. په هرصورت، د مالیې وزارت په وینا، د (EDP) له خوا د تنظیم شوی روزنیز پروګرام داسې کوښښ نه دی کړی چې د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې[۹] آجنډا لا نوره مخ ته یوسي. [۷] د ملي بودجې په اړه د بودجې د عمومي ریاست پریزنټېشن، د وړاندې تګ لپاره دا تشخیصوي چې د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې په اړه به په آزمېښتي وزارتونو کې د روزنې پروګرامونه برابر شي، خو دا روښانه نه ده چې دا به د مخکنیو عملي شوو روزنیزو پروګرامونو چې د تیار شوي لارښود کتاب او روزنیز کتاب په مرسته تر سره شوي، او د وزارت له خوا تایید شوي، څه توپیر ولري. [۸]

د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې د عمل ستراتیژیک پلان هم دا ژمنه کړې چې د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې په اړه یو تخنیکي ورتیا رامنځته کړي، چې په هغه کې به د ورتیا د لوړولو پلان او د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې او روزنیز لارښودونه شامل وي، کوم چې په ۲۰۱۵ کال کې تیار شوي دي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري دا ارزونه کړې چې دواړه لارښود او روزنیز کتاب د نړیوالو معیارونو او په افغانستان کې د مالي چارو د تنظیم سیستم (PFMS) سره سم دي او دا تشریح کوي چې څنګه د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې څخه د کلنۍ بودجې په جوړولو کې کار واخستل شي، چې په هغو کې مثالونه، تجارب او چیک لیستونه شامل دی. د مالیې وزارت د جنډر لارښود کتاب کې چې د ۲۰۱٦ کال په اکتوبر میاشت کې په آنلاین ډول چمتو شوی دی، که څه هم هغه یوازې په انګلیسي ژبه د (UNDP) له

[۷۷] "د ۱۳۹٦ کال د بودجې په مسوده کې د جنډر وضعیت، "د مالیې وزارت، د بودجې عمومي ریات، دسمبر ، ۲۰۱٦ کال.
[۷۸] هماغه ځای.
[۷۹] نیکول برتزیک او احمد سلیمان هدایت، "په افغانستان کې د جنسیت پر اړتیاوو ولاړه بودجه: یو کار د پرمختګ په حال کې،" د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، سپتمبر، ۲۰۱٦ کال
[۸۰] د ۱۳۹٦ کال د بودجې په مسوده کې د جنډر وضعیت، "د مالیې وزارت، د بودجې عمومي ریات، دسمبر ، ۲۰۱٦ کال.

خوا خپور شوی دی، [٨] خو په پښتو او دري ژباړل شوي متنونه ١
یې هم شتون لري، خو د مالیې وزارت او یا د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له خوا یې د لاسته راوړنې لپاره کومه پته نه ده ښودل شوې.

حتی په نوي وړاندې شوو پالیسیو او اصلاحاتو کې، د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجه په اغیزمنه توګه نه ده ځای شوې. د مثال په توګه، د ولایتي بودجې جوړونې په پالیسۍ، د جنډر مساوات د مهمو موضوعاتو په توګه د ولایتي ادارو لپاره نه دي په نښه شوي تر څو هغه په خپله بودجه کې په پام کې و نیسي، او د هغوی د تطبیق لپاره هیڅ ډول مقررات او لارښودنې په پام کې نه دي نیولي. د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجه په اړه د افغانستان د څیړنې ارزونې اداري (AREU) راپور مونډلي چې په محلي پلان او بودجه جوړونه کې د ښځو ګډون ته یوازې یو ځل اشاره شوې ده، په داسې حال کې چې د ښځو چارو ریاست د عامه مالي ٢
چارو د تنظیم غړی دی. [٨] په پای کې، د (AREU) راپور ښودلې چې په افغانستان کې د جنډر پر اړتیاوو ولاړه بودجه لا اوس هم یو شمیر ننګونو، لکه د جنسیت د برابرۍ د ودې لپاره د چاپیریال د نه ملاتړ سره مخ ده: د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې پر نیمګړتیاو پوهیدل؛ د مشرتابه له خوا د پرله پسې ملاتړ؛ فکري چوکاټ او د جنډر تخنیکي وړتیا، د پروګرام پر بنسټ د بودجې جوړونه او عامه مالي چارو د تنظیم د وړتیا نشتون، محدودې بشري او مالي منابع؛ د جنس له پلوه د ارقامو جلاوالي او معلوماتو ته محدود لاسرسی؛ د مرکزي او سیمه ایزي بودجې د بهیر ترمنځ واټن؛ او د رسنیو او مدني ټولنو کمزوری لاسرسی له دې نیمګړتیاوو څخه شمیرل کیږي.[٣] [٨]

دغه پایلې د (EPD) د ٢٠١٥ کال د کتنې څخه وروسته هیڅ بدلون نه دی مونډلی، کومو چې مونډلي چې هغه شاخصونه چې د بودجې جوړونې په بهیر کې کارول شوي د جنډر اړتیاوو سره تر ډیره بریده اړخ نه لګوي. د ملي بودجې د جوړولو بهیر د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې ته د اغیزمنې پاملرنې ډاډ نه ورکوي، ځکه اوس مهال په دې اړه پوره میکانیزمونه شته، چې د جنډر تحلیل او جنډر اړتیاو ته پاملرنه کونکي ملي بودجه وهڅوي

او ملاتړ یې وکړي. دې کتنې دا هم مونډلې چې یو زیات شمیر دولتي چارواکي لا تر اوسه هم د جنډر اړتیاوو په اړه کومه پوهه نه لري. د جنډر آزمیښتي وزارتونو، د ١٣٩٥ کال دوهم متحد المال وړاندې کولو دا مونډلې چې د جنډر څخه په مبهمو اصطلاحاتو یادونه شوې او په عمومي توګه د جنډر د پروګرام تحلیل او د هغه بالقوه اغیزې نه منعکس کوي. د پروګرام په کچه هیڅ ډول شاخصونه نه دي چمتو شوي چې د جنډر اړوند شاخصونو معیارونو (GSIs) پوره کړي، او د شاخصونو ډیری شوي ژمنې نه منعکسې کوي

په هر سکتور کې په ټولو ملي او سکتور- اړوند پالیسیو اوستراتیژیو کې تیاري شوي وې. په ډیری وزارتونو او پروګرامونو کې د جنسیت د یوشانوالي په اړه د پلان جوړونې وړاندوینه کوي خو د جنډر د نیمګړتیاو د لرولو لپاره پلان نه جوړوي.

د (EPD) د ٢٠١٥ کال بیا کتنې ومونډله چې یو څو آزمیښتي وزارتونو د ١٣٩٥ کال په خپلو بودجوي پیشنهادونو کې د دوهم متحدالمال جنډر اړوند ځینې برخې او یا ټولې برخې سپینې پریښې وې. او یو شمیر نورو بیا په اټکلي توګه د جنډر په اړه د ګټه اخستونکو تفصیلات او یا جنسیت په جلاوالي د ښځو د ونډې سلنه په پرمختیایي پروژو کې ښودلې ده. سربیره پر دې، په څو مواردو کې دې وزارتونو هم راپور ورکړی چې هغوی د هر جنس د جلاوالي پربنسټ کوم معلومات نه لري، چې دا خبره د اټکلونو په رښتینولۍ بدګماني پیدا کوي، ځکه چې د جنډر پر اړتیاوو ولاړ د څارنې سیستمونو نشته او د سمو معلوماتو راټولول صورت نه نیسي.

د بودجې د پالیسۍ او اصلاحاتو ریاست یو چارواکي څرګنده کړې چې د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې د تطبیق لپاره د حکومتي کارکونکو وړتیا او د دغه نظر منلو په برخه کې ډیرې ستونزې شته. نوموړي چارواکي د هغوی د تفکر په اړه وویل، چې د وزارت چارواکې د جنډر د اړتیاوو حقیقت د درک کولو او د

٨١ ” د جنډر پر اړتیاوو ولاړې بودجې جوړونه، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره
http://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/library/womens_empowerment/GRB-handbook.html.

٨٢ نیکول برتزیک او احمد سلیمان هدایت، "په افغانستان کې د جنسیت پر اړتیاوو ولاړه بودجه: یو کار د پرمختګ په حال کې،" د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، سپتمبر، ٢٠١٦ کال
٨٣ هماغه ځای.

جندر د پروژو د پلي کولو او دا چې څنګه جندر ته په خپلو پرګرامونو کې ځای ورکړي د ښځو د نړیوالې ورځې په مراسمو
٤ کې ګډون ته زیات لیواله دي. [٨] هغه سربېره پردې ویلي چې د ۱۳۲۵ګڼه د ملي عمل پلان له موجودیت سره کار په ۲۰۱۵ کال کې پیل کړ، دا اوس د بودجوي پلوه کوم لومړیتوب نه دی ځکه چې لا تر اوسه دٔ هغې لګښتونه نه دي بشپړ شوي. [٨] په هرصورت، دا د هغو معلوماتو سره چې بودجې د عمومي ریاست له خوا د ۱۳۹۶ کال ملي بودجې د جنسیت په اړه وړاندې کړې دي، او ټینګار کوي چې هغوی د (۲۰۲۰-۲۰۱۷) کال پورې لګښتونه بشپړ کړي دي، سمون نه لري، دا په داسې حال کې ده چې د ۲۰۱۷ کال لپاره لګښت (۸،۲۱۳) میلیونه ډالره، دافغانستان د اسلامي جمهوریت ونډه په تسویدي عادي بودجه کې زیاتره د وزارتونو د (۲۲) کوډ لاندې وړاندې شوی او په بوجې کې[٦] کمبود (۵،۷۳۵) میلیونه ډالره دی. [٨]

په پایله کې، داسې ښکاري چې تېر کال کې د جندر پر اړتیاوو ولاړې بودجې د فعالیتونو د بنسټیز کولو په اړه ډېر لږ اغیزمن پرمختګ شوی دی. دا ناهیلې کونکې ده، خو پر ځان بساینې دوه اړخیزه حساب ورکولو چوکاټ د پرمختګ راپور او (SMART) هوکړې تر سره شوو کارونو لپاره د (۱۸/۲۰۱۷) د (۱۳۲۵) د عمل ملي پلان او د ښځینه ملکي کارکوونکو د سلنې د زیاتوالي یادونه کوي، خو د جندر پر اړتیا ولاړې بودجې هیڅ یادونه نه کوي. دا وایي چې د جندر پر اړتیا ولاړې بودجې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په لومړیتوب کې ځای نه دی نیولی او نړیواله ټولنه هم دې موضوع ته د لومړیتوب په نظر نه ګوري یا په ورته ډول د پرمختیایي همکار او مرستو د اغیزمنتیا لپاره په آجنډا کې شامل نه ده. خو د بودجې د عمومي ریاست د ۱۳۹۶ کال د بودجې په طرحه کې داسې ښودل شوې چې د جندر پالیسي او جندر موضوعاتو پلي کول درې نوو وزارتونو ته غزول یو پرمختګ دی، او یو داسې محرک برابرولی شي چې دې نیمګړتیا ته به پاملرنه وکړي. که څه هم د جندر د عمل ستراتیژیک پلان او اسناد لکه لاربښود کتاب او د روزنې لاربښود محدود پلي کېدلو ته په پام، دا ناشونې بریښي، چې دا ژمنې به کومه مثبته نتیجه و لري.

## ٤،٦ د مدني ټولنې بوختیا

د ۲۰۱۵ کال د بودجې پرانستې سروې موندلې چې د بودجې په بهیر کې د خلکو ګډون لږ دی. افغانستان له (۱۰۰) څخه (۲۷) نمرې اخستل په ګوته کوي چې د ملي بودجې په بهیر کې د مدني ټولنې او عامو خلکو لپاره شته فرصتونه ډېر محدود وو. د دې ارزول چې حکومت تر کومې اندازې خلکو ته دا موقع برابروي چې د بودجې په بهیرونو کې لاسرسی لري، دغه نظر پوښتنه ښیي چې د مدني ټولنې[٧] د لاسرسي کچه ښه شوې نه ده. [٨]

د مالیې وزارت په ۱۳۹۲، ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴کلونو کې د مدني ټولنې سره ورکشاپونه جوړ کړي دي. د افغان دولت د وینا له مخې، د مدني ټولنې سره د ورکشاپ تر سره کولو موخه دا وه چې د دولتي سکتور روڼتیا او حساب ورکولو ته وده ورکړي او همدارنګه مدني ټولنې ته پوهه او بودجې د جوړونې، تطبیق او څارنې بهیر کې برخه ور کول شي. داسې نه بریښي، چې دا ډول یو ورکشاپ د ملي بودجې د ۱۳۹۵ او یا ۱۳۹٦ د مسودې د چمتو کولو څخه مخکې تدویر شوي وي. که څه هم، د ۱۳۹٦ مالي کال د بودجې سماعت د اګست د ۲۷ څخه د سپتمبر تر ۲٦ صورت ونیوه، چې په هغو کې ٦۳ بودجوي واحدونو د راتلونکي کال لپاره خپله بودجوي وړاندوینه مطرح کړې وه. د مالیې وزارت په وینا، د ۱۳۹٦ مالي کال د بودجې سماعت د تېرو کلونو څخه توپیر درلود چې پکې د بودجې د کمېټې منظمو غړو سربېره، په دې بهیر کې د مدني ټولنې او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون (IARCSC) هم ګډون درلود. د مدني ټولنې او اداري اصلاحاتو او ملکي

[٨٤] د بودجې د پالیسی او اصلاحاتو د ریاست چارواکي سره مرکه
[٨٥] هماغه ځای.

[٨٦] د ۱۳۹٦ کال د بودجې په مسوده کې د جندر وضعیت، "د مالیې وزارت، د بودجې عمومي ریات، دسمبر ، ۲۰۱٦ کال.
[٨٧] "د افغانستان اړوند لنډ معلومات، "د پرانیستې بودجې سروې، ۲۰۱۵.

خدمتونو خپلواک کمیسیون (IARCSC) ته موقع ورکړل شوې وه چې خپلې اندیښنې شریکې او همدارنګه ګټور نظریات وړاندې کړي.[۸۸] د بودجې د تطبیق ریاست یو چارواکي پردې برسیره یادونه کړې، چې د مدني ټولنې استازو ته هم بلنه ورکړل شوې وه تر څو په کابل کې د بودجې د تطبیق په هغه غونډه کې چې په هغو کې وزارتونو، د ولسي جرګې غړو او ولایتي استازو ګډون درلود، برخه واخلي. که څه هم هغه دا یادونه وکړه، چې په غونډه کې د مدني ټولنې ونډه لږه وه.[۸۹] اوس هم داسې ښکاري چې د ملي بودجې په پلان جوړونه، څارنې او ارزونې کې د مدني ټولنې زیات اغیزمنې ښکیلتیا ته اړتیا شته دی.

## ۵. سپارښتنې

د دې کلنۍ بودجې د بیا کتنې په پایله کې دا موندل شوي، او (EPD) لاندې سپارښتنې کوي:

### دولت

#### مالي ثبات (پایښت)

- د حفظ او مراقبت پراخیدو او تمویل ته د لومړیتوب ورکولو پر بنسټ د حفظ او مراقبت پالیسی بشپړ تطبیق دې تر لاسه شي
- دې تر لاسه شي چې ولایتي چارواکو ته د زده کړو د برابرولو له لارې د پالیسی او تکړه تخنیکي مرستې ملاتړ په وسیله د وړتیا د لوړولو موقع برابره شي.
- نړیوالو مرسته برابرونکو سره د خبرو لپاره د حکومت د اختیاري صلاحیت پر بنسټ د حکومت د وړتیاو د جذب او د عامه مالي چارو د تنظیم د واقعي انګیرنو په توګه د یوې وسیلې د سرچینو تنظیم ته پراختیا ورکړي
- د عوایدو د بالقوه طرحو تعقیبول او د راټولولو شوو عوایدو څارل، څکه چې هغه د (PFMR II) څخه بې برخې شوي
- د مدني ټولنې د سپارښتنو سره سم د کانونو د قانون بیا کتنه او ارزونه وشي تر څو د کانونو په برخه کې د روڼتیا او حساب ورکولو او بالقوه اعظمی عوایدو دې تر لاسه شي

۵. سپارښتنې

#### د عامه مالي چارو د تنظیم اصلاحات

روڼتیا او حساب ورکول:

- ټول روان راپورونه، پلټنې او نورو اسناد چې د ملي بودجې د روڼتیا او حساب ورکولو سره تړاو لري په اړونده دولتي ویب پاڼه کې خپاره شي
- د تدارکاتو د ملي اداري له لارې د ضایعاتو او درغلۍ په ګوته کولو ته دوام ورکړئ، په داسې حال کې چې د قراردادونو بهیر باید بهتر او د بودجې د تطبیق د تاخیر په برخه کې د څنډ مخنیوی وشي
- د پلټنې د عالي اداري تخنیکي وړتیا پیاوړې کړئ تر څو هغوی غیر مالي پلټنې تر سره کړي چې هغه به د خدمتونو د وړاندې کولو له نظره د عامه لګښتونو پایلې بررسي کړي، چې په هغو کې د اغیزمنتیا نشتون، ضایعات او درغلې په ګوته کړي

[۸۸] "د ۱۳۹۶ مالي کال د بودجې د سماعت پایله، "د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مالیې وزارت، -http://www.budgetmof.gov.af/index.php/en/85 news/285-conclusion-of-budget-hearing.

[۸۹] د بودجې د تطبیق اجرا د ریاست له چارواکي سره د (EPD) تر سره شوې مرکه، ۲۰ نومبر ۲۰۱۶.

- معلوماتو ته د لاسرسي د قانون پلي کېدل باوري کړئ، تر څو د هغو چاراواکو په خلاف اقدام وشي څوک چې مدني ټولنو، رسنيو، او د بودجې په اړه معلوماتو ته د عامو خلکو د لاسرسي په برخه خنډان جوړوي

<u>څارنه او ارزونه:</u>

- د څارنې او ارزونې د سيستمونو د ارزونې راپور چې په ۲۰۱۴ کال کې برابر شوی وه، په هغو کې د دولت په کچه د اجراآتو د څارنې او ارزونې د سيستم رامنځته کېدل شامل دي، سپارښتنې عملي کړئ،
- د اړوندو وزارتونو د بودجې د اجراآتو د څارنې او ارزونې لپاره د لومړي او دوهم متحدالمال د چوکاټونو د کارولو پياوړتيا، او د اجراآتو د اغېزمنو شاخصونو سره په سمون د مهمو ملي او سکتوري - مشخصو ستراتيژيو اړتيا ته پاملرنه

<u>ولايتي بودجه جوړونه:</u>

- د سيمه ايزو ارګانونو خپلواک اداري له لوري تسويد شوې د ولايتي حکومتوالي پاليسي تعقيبول، او دا ډاډ ترلاسه کول چې هغه د ولايتي بودجوي پاليسۍ سره مطابقت لري
- د ولايتي بودجوي پاليسۍ د روښانه کولو او پراختيا له لارې د ولايتي بودجې د پاليسۍ اصلاح کول تر څو د ادارو نقش، مسئوليتونه روښانه، او مسلسل لګښتونه او هغوی ته ور انتقال شوې دندې واضح شي

<u>د پروګرام بودجه جوړونه:</u>

- د پروګرام د بودجې داسې طرحه ترتيب کړئ، چې د (PFMR II) سره سمون ولري
- د پروګرام د بودجې مفکورې په روښانه او شفاف ډول اړوندو وزارتونو ته واضح کړې تر څو د ورته معيارونو فارمولونو څخه کار واخلي

<u>د جنډر پر اړتياوو ولاړه بودجه جوړونه:</u>

- د هر نوي نوښت د پيل د مخه بايد، موجوده پاليسۍ پلي او موجوده منابعو او اسنادو لکه د جنډر د عمل ستراتيژيک پلان، د جنډر لارښود کتاب، او د جنډر د روزنې لارښود، څخه کار واخلئ
- د بودجې د تصويب په بهير کې د ملي بودجې د ارزونې څخه د مخه د جنډر اړتياوې د يو معيار په توګه شاملې کړئ
- د حکومت په دننه کې چې د جنډر په اړه کومې منابع او په ځانګړې توګه د ماليې او ښځو چارو وزارت کې د جنډر د جلاوالي اړوند کوم معلومات او جندر تحليل شته، په هغې اړه د پوهاوي لوړول او دا چې هيڅ چا آنلاين منابع راټولې کړې نه دي
- د يوې طرحې څخه د جندر د بودجې د اظهارنامې ايجاد تر څو د جنډر د اړتيا وړ بودجه رامنځته شي
- د منځنمهالې بودجې پلان جوړونې او د بودجې د زياتې اغېزمنتيا لپاره د جنډر د اړتيا وړ بودجې تجربې د جنډر د تحليل لپاره ومنل شي
- د لومړي او دوهم متحدالمال د جنډر برخه اصلاح کړئ د نورو مشخصو لارښونو شاملولو لپاره چې د وزارت بودجوي اسناد بايد کوم څه ولري او ډاډ تر لاسه کړئ چې يوه اغېزمنه د جنډر د اړتيا وړ بودجه ايجاد شي
- د هر وزارت د جندر د واحد څخه وغواړئ چې هر وزارت د متحدالمال د وړاندې کولو څخه د مخه بايد هغه ومني

- په وزارتونو کې د بودجې پلان جوړونې، تطبیق، او ارزونې په بهیر کې د جندر د واحد نقش رسمي کړئ
- د څارنې او ارزونې سیستمونه بیا مطالعه کړئ تر څو ډاډ تر لاسه شي چې معلوماتو د جنسیت پر بنسټ جلا شوي او سیستم هغه معلومات برابروي چې د جندر تحلیل پلي او داسې پالیسي او پروګرامونه پلان کړي چې د جندر اړتیا په پام کې ونیسي

د مدني ټولنې بوختیا:

- د بودجې په بهیر کې د مدني ټولنې د ورکشاپونو د تنظیم، مشورتي غونډو، د مدني ټولنو لپاره د عامه استماعیه غونډو له لارې د خلکو ګډون ته وده ورکړئ یا داسې کمیټې جوړول چې په هغو کې د مدني ټولنو سازمانونه شامل وي چې د بودجوي متحدالمال په اړه نظر ورکړي
- په محلي کچه د نوي ولایتي بودجې د پالیسی سیستم کې د تطبیقي څارنې له پلوه د مدني ټولنې بالقوه نقش په ګوته کول

## نړیوال مرستندویان

- د ډېرو سرچینو څخه د بودجې د ملاتړ د غوراویو لکه د افغانستان د بیارغونې مالي صندوق یا پروګرام پر بنسټ د تخصیص څخه د یوې وسیلې په توګه د افغانستان د حکومت د اختیاري صلاحیت د ښه والي لپاره کار واخلئ
- په دواړو غیر اختیاري او اختیاري بودجوي چوکاټونو کې د فساد د صفر اندازې زغم پالیسي په کار واچوئ او ورسره د حکومت د فساد سره د مبارزې د نوښتونو د اصلاحاتو ملاتړ وکړئ
- د (PFMR II) د پلي کولو مالي او تخنیکي ملاتړ وکړئ، تر څو شوي پرمختګونه پیاوړي او دواړو (مالی او ظرفیتي) نیمګړتیاوو ته پاملرنه وشي
- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د زیربناء او تاسیساتو د اغیزمن سپارلو ډاډ، چې په هغو کې پوره له وړاندې خبرتیا او د حفظ او مراقبت لپاره د دولت د مالي پلان جوړولو ډاډ شامل وي
- د مرستو د پیدا کولو او اغیزمنتیا د جندر پر اړتیا ولاړې بودجې د ترویج په خاطر د یو لومړیتوب په توګه هغې ته پام کول
- د بسپنه ورکوونکو او پروګرامونو د ملاتړ کولو لپاره د جندر پر اړتیا ولاړې بودجې اصلاح باید خپل تمرکز له عمومي پالیسیو څخه د ژمنو په اړه حقیقي پوهې، وړتیاوو، تجاربو او سیستمونو ته چې هغه به کولای شي د جندر د متفاوتو اړتیاوو، تجربو، او اغیزمنتیاوو په ټوله بودجه او پروګرامونو کې په ټولو پړاونو کې آسانتیا برابره کړي. پروګرامونه باید ادا ډاډ تر لاسه کړي چې برابره شوې مرسته باید د ملاتړ په بڼه وي نه په واقعي بڼه د پالیسیو، ستراتیژیو او سیستمونو جوړولو په موخه.

## د مدني ټولنو سازمانونه

- د کلنۍ بودجې د بهیر په اړه پوهاوی، د بودجې اصلاحات او د عامه مالي چارو د تنظیم او د مالي ثبات مهم مسایلو اړوند یو پوهاوي ته وده ورکوي
- د مالیې وزارت او همدارنګه د اړوندو وزارتونو او خدمتونو د وړاندې کولو د څارنې د بودجې د جوړولو په پروسه کې برخه واخلي
- د بودجې د تیارولو په بهیر کې د مالیې د وزارت او همدارنګه د اړوندو وزارتونو سره او د خدماتو د وړاندې کولو په څارنه کې ونډه اخلي

- په ملي بودجه کې د تخصیص او ژمنو په اړه د پوهاوي او ملي حکومتي ستراتیژۍ له لارې د بودجې د څارنې په بهیر کې برخه اخلي، او په محلي کچه د یوه خپلواک کمېسیون پواسطه د ملي بودجې د اغیزمن او د حساب ورکولو تطبیق لپاره د ملاتړ دنده ترسره کوي
- د یوې وسیلې د مخالفت پر ځای د اغیزمنې بودجې جوړونې او ښه حکومتوالي لپاره د مدني ټولنې او حکومت تر منځ  د همکارۍ د طرحې ملاتړ کوي